# د اداري فساد پر وړاندې
# د مبارزې ملي استراتيژي

د افغانستان اسلامي جمهوريت
اکتوبر ۲۰۱۷

**بسم الله الرحمن الرحیم**

لوی خدای(ج) فرمایي:
خپل مالونه په خپلو کې په باطله او ناحقه مه خورئ او هغه د بډې په توګه حاکمانو او قاضیانو ته مه ورکوئ ترڅو د خلکو یوه برخه مالونه (دهغوی د ظالمانه حکم په تکیې سره) په ګناه او معصیت سره وخورئ، په داسې حال کې چې (د خپل کار په بدوالي) پوهېږئ.
د بقرې سورت ۱۸۸آیت

حکومت د لاندې دندو لرونکی دی:
د عامه نظم او امن تأمینول او د هر ډول اداري فساد له منځه وړل.
د افغانستان اساسي قانون، د پنځه اویا یمې مادې دریېمه فقره

موږ د اداري فساد د نه له منځه وړلو په خاطر، چېزموږ هېواد له دننه څخه خوري، نه شو کولای په نورو نیوکه وکړو.
په G7 غونډه کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جلالتمآب جمهوررئیس له وینا څخه.

لوی خدای(ج) دې بډې اخیستونکی او بډې ورکوونکی لعنت کړي.
په هرات کې د ځوانانو د کمپاین شعار

## لړلیک


1. چوکاټ، تګلاره او د عمل پلان ........................ ۱
۲. د ستونزو او د هغو د عواملو تشخیص ........................ ٤
۳. د افغانستان له اداري فساد سره د مبارزې ملي ستراتیژي ........................ ٦
۴. د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ملي ستراتیژۍ لومړیتوبونه ........................ ۸
لومړی محور – سیاسي رهبری او د ځواکمنو اصلاح ګرانو له شبکې څخه ملاتړ ........................ ۸
دوه یم محور – په امنیتي سکتور کې د اداري فساد له منځه وړل ........................ ۱۰
دریيم محور – په استخدام کې د شایسته سالارۍ او په روابطو د ضوابطو د غوره بللو پربنسټ د ملکي خدمتونو د سیستم بنسټیز کول ........................ ۱۱
څلورم محور – د اداري فساد د تورنو تعقیب: ........................ ۱۳
پنځم محور – سالم مالي او بودجوي مدیریت او په شفاف او پلټنې وړ ټول د پیسو تعقیبول ........................ ۱۵
۵- هغه وزارتونه چې په لومړیتوب کې دي ........................ ۱۸
٦. د هېواد والو دله لاسه وتلي اعتماد راژوندی کول ........................ ۲۰
۷. له خصوصي سکتور سره مرسته ........................ ۲۱
۸. بین المللي همکارۍ ........................ ۲۲
۹. د څارنې او رپوټ ورکونې میکانیزم ........................ ۲۲
۱۰. لنډ مهاله او اوږد مهاله اقدامات ........................ ۲۳
۱۱. پایله ........................ ۲۴
ضمیمې ........................ ۲۵
۲ ګڼه ضمیمه: د ملګرو ملتونو د سازمان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې کنوانسیون(UNCAC) ........................ ۳۱

## 1. چوکاټ، تګلاره او د عمل پلان

د ملي يووالي حکومت په افغانستان کې د اساسي قانون د تطبيق او د قانون د واکمنۍ د پياوړتيا په ژمنې سره او د عدالت د تأمينولو او د هغه په تطبيق کې د حکومت د رول د تأمينولو په منظور د ژورو ديني، سياسي او علمي مفکورو پربنسټ جوړ شوی دی.

د هېواد والو د حقوقو د ملاتړ او رعايتولو لپاره د دولت د مکلفيتونو په هکله د افغانستان د اساسي قانون حکمونه بشپړ وضاحت لري.

اداري فساد او تاوتريخوالی د هېواد والو د وضعيت د ښه والي او د هوساينې د خدمتونو د وړاندې کولو په لاره کې، د خپلو قانوني دندو په ترسره کولو کې د دولت واکمني کمزوري کوي او له همدې امله د افغانستان اساسي قانون ((د عامه نظم او امن تأمينول او د هر ډول اداري فساد له منځه وړل)) ددولت د دندو برخه بولي (د افغانستان د اساسي قانون د ۷۵ مادې د دريېم جزء حکم).

ټول دولتونه په يوه ډول نه يوه ډول له اداري فساد سره مبارزه کوي، ځکه اداري فساد ددولتونو اعتبار کمزوری کوي اود بې وزلې د کمولو، د امنيت د تأمينولو او د هېوادوالو د ځواکمنولو لپاره هڅې له ستونزو سره مخامخ کوي. د اداري فساد او د پيسو د حاکميت په ترويج سره، د قانون تطبيق کمزوری کېږي خو په افغانستان کې دغه ستونزه له دې څخه هم ستره ده. د دې ملت برخليک او پايښت د اداري فساد پرووړاندې مبارزه کې له برياليتوب سره تړلی دی او په هغه صورت کې چې د فساد پرووړاندې مبارزه ونشي، دغه سرطاني غده هېواد له دننه څخه مضمحل کوي.

د طالبانو د رژيم له راپرځېدو وروسته له ۲۰۰۲ ميلادي کال را پديخوا هېوادوالو له دې امله چې نوی حکومت د اداري فساد پرووړاندې– کافي اقدامات ندي کړي، خپله ناهيلي ځرګنده کړې ده.

په ۲۰۱۴ کال کې يو زيات شمېر خلکو هغو نوماندانو ته را يې ورکړې چې د اداري فساد په له منځه وړلو ژمن وو. خو اداري فساد لاتراوسه هم شتون لري او د خلکو په تېره بيا د ځوانانو ترمنځ د پراخې نارضايتې او غوصې له لاملونو څخه يو لامل دی.

د ملي يووالي حکومت چې په ۲۰۱۴ کال کې د چاروواکۍ ترلاسه کړ، د افغانستان د پايښت او پرمختګ لپاره د اداري فساد خطريې په ښه توګه درک کړ. په خپلو پښنو د درېدو د تحقق ستراتيژۍ چې د حکومت د اصلاحاتو برنامه بيا نوي، د اداري فساد پرووړاندې مبارزې ته يې د حکومتولۍ د کيفيت د ښه والي او د قانون د واکمنۍ د پياوړتيا په موخه د خپلو پلانونو په محراق کې ځای ورکړی دی.

له هغه وروسته ځينې لازم او مهم اقدامات ترسره شول او په کابل بانک کې د فساد په قضيه کې ښکيل کسان له يوې عادلانه محاکمې وروسته بنديان شول. د کار او ټوليزو چارو وزارت، ګمرکاتو، دولتي بانکونو او د ښار او کورجوړولو وزارت د ځينو مقاماتو په خبر د بېلابېلو ادارو مقامات هم تر عدلي او قضايي تعقيب لاندې ونيول شول. د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د دفاعي ځواکونو لوړپوړي مقامات د اداري فساد په تور محاکمه او بنديان شول.

که چېرې د اداري فساد زمينې او فرصتونه کم نه کړل شي او يا له منځه لاړ نشي، د فساد له جرم وروسته د افرادو محاکمه کول، د کم برياليتوب شونتيا له ځانسره لري. په افغانستان کې د اداري فساد ښکارنده يوازې په هغو متمردو

افرادو پورې چې د يوه اغيزمن سيستم په نشتوالي کې، له قانون څخه په سرغړونې بريالي کېږي محدوده نه ده؛ بلکې په خپله سيستم هم کمزورتياوې او نيمګړتياوې لري. د فساد د مرتکبينو محاکمه کول د اداري فساد پروړاندې د مبارزې يوه برخه ده، خو دغه کار يوازې د هغه هراړخيزحل يوه لاره ده چې په خپلو پښو د افغانستان د دريدو د تحقق په ستراتيژۍ کې ځای ورته ورکړل شوی دی. دغه سند د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کار کې د افغانستان ددولت د ستراتيژۍ څرګندونه کوي. لومړی، دغه ستراتيژي دهغه مفهوم چوکاټ برابروي چې د اداري فساد د خپريدو د دليلونو د ارزونې لپاره به ورڅخه ګټه اخيستنه وشي.دوه يم،د مخنيوونکو او تنبيهي اقداماتو ترمنځ د ممکن انډول د ساتنې لپاره ددولت اغيزمنې تګلارې بيا نوي.دريیم، د اداري فساد د تشخيص او له منځه وړلو لپاره په دولت پورې اړوند د عمل برنامه، لومړيتوبونه او اقدامات په لنډه توګه بيا نوي:

دغه ستراتيژي لاندې پنځه اجرائيوي لومړيتوبونه رانغاړي:

- د ملي سياسي رهبرۍ او د اصلاحګرو شبکو پياوړتيا؛
- په امنيتي سکتور په ځانګړې ډول د کورنيو چارو په وزارت کې د اداري فساد پای ته رسول؛
- د وړتيا پر بنسټ د ملکي خدمتونو د سيستم جوړول او د ملکي خدمتونو په تعييناتو کې د لاس وهنو او واسطه بازۍ پای ته رسول؛
- د اداري فساد د تورنو تعقيبول؛ او
- سالم مالي او بودجوي مديريت په داسې ډول چې تمويل شفاف او د تعقيب وړ وي او له ملي محاسبوي اصولو سره سم وپلټل شي؛

په دې ستراتيژۍ کې پراخ ريفورمونه او اقدامات شامل دي، خو دغه پنځه لومړيتوبونه د ستراتيژۍ محور او بنسټ جوړوي او ددغې ستراتيژۍ بريالیتوب په هغو پورې تړلی دی.

له دغو پنځو اجرايي لومړيتوبونو څخه هريو د عامه اړيکو د پياوړې برنامې د جوړولو غوښتنه کوي چې هېوادوال ددغو اصلاحاتو په بهير کې شامل کړي. ددغې ستراتيژۍ د تطبيق همغږي او څارنه د افغانستان دسولې او پرمختيا په ملي چوکاټ کې د ځای کړل شوې پاليسۍ د عملي کولو پربنسټ تکيه لري.

په ټوليزه توګه ددغې ستراتيژۍ د تطبيق د څارنې مسئوليت د قانون د واکمنۍ او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په عالي شوري پورې اړه لري. سربيره پردې ددغې شورې دارلانشاء ددغې ستراتيژۍ د تطبيق د څارنې او رپوټ ورکولو په منظور، په مشخصه توګه پياوړتيا مومي. د هغه لومړيتوب له مخې چې د حکومت مشرتابه د اداري فساد پروړاندې مبارزې ته ورکړی دی، اقتصادي عالي شوري به هم ددغې ستراتيژۍ د تطبيق پړاوونه او کيفيت او په دې برخه کې د هر وزارت د پرمختګ په اړوند د اقتصادي تصميم نيونې بهير وڅاري.

ددغې ستراتيژۍ د پرمختګ رپوټ به په انلاين ډول د ټولو په واک کې ورکړل شي. اړوندې انکشافي شوري ګانې د ستراتيژۍ د تطبيق په برخه کې تخنيکي ملاتړ کوي او په دې سند کې د ذکر شوو اصلاحاتو له پنځو اصلي محورونو څخه د هريوه پرمختګ به وڅاري.

ددغه سند بله برخه په مسئولو وزارتونو، دعوايدو او لګښتونو په مديريت او په هغو ادارو او بنسټونو کې چې له اداري فساد سره په مبارزه کې خلکو ته د ونډې ورکولو په کارکې رول لري، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د اقداماتو، يو

ټولیز انځور وړاندې کوي. د خصوصي سکتور وده او د کار د زمینې برابرول د امنیت او ثبات دتأمینولو او د عامه هوساینې په تأمینولو کې په اساسي قانون کې د درج شوو مکلفیتونو د ترسره کولو په لاره کې ددولت د برنامو د بریالي تطبیق بنسټ دی. له دې امله هغو وزارتونو ته به چې د خصوصي سکتور په پرمختیا کې رول لري، خاصه پاملرنه وشي. د اداري فساد پروړاندې مبارزه زموږ د بین المللي شریکانو د رول د بدلون غوښتنه هم کوي ترڅو هغوي وکولای شي د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ددایمي سیستمونو په جوړونه کې مرسته وکړي. ددغه سند ضمیمې د هغو شاخصونو هر اړخیز لنډیز وړاندې کوي چې ددغې ستراتیژۍ د معیارونو په تنظیم او له تطبیق او اغیزو څخه په څارنه کې به وکارول شي.

له دغې ستراتیژۍ سره به ځرګند مخالفت ونشي، خو تطبیق به یې له سخت مقاومت سره مخامخ وي. ډېر ستر خطر، ددغې ستراتیژۍ سیاسي کېدل دي او یا دا چې خلک د ناوړو تبلیغاتو تر اغیزې لاندې راشي او دې باور ته ورسېږي چې دغه ستراتیژي د مخکښو شخصیتونو ترمنځ د معاملې لپاره یوه بله وسیله ده. ددغې موضوع د مخنیوي لپاره، له اداري فساد سره د مبارزې د ستراتیژۍ لومړیتوب دا دی چې یوشان په ټولو پلې شي. د اداري فساد ارتکاب په نژادي، سیاسي او مذهبي ډلې او آن په ځانګړې جنسیت پورې منحصر نه دی. د افغانستان له اداري فساد سره د مبارزې ستراتیژي باید بې طرفه، هدفمنده، شفافه او انډولیزه وي، ددغې ستراتیژۍ په پلي کولوکې بشپړه بې طرفي او عامه خبرتیا د قانون د واکمنۍ او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د عالي شوري له مسئولیتونو څخه دي چې د ملکي خدمتونو د کمیسیون او د لویې څارنوالۍ په همکارۍ ترسره کېږي. د ټولیزو رسنیو او د مدني ټولنې له لارې عامه پوهاوی او ستراتیژیکې اړیکې د معتبرو ارقامو او حقایقو د وړاندې کولو په ګټې اخیستنې سره، هغه خوځښتونه شنډوي چې له اداري فساد سره د مبارزې پروړاندې د سپوتاژ په موخه صورت مومي.

په همدې لومړي سر کې باید د دوو مهمو موضوعګانو یادونه وشي: لومړی، له اداري فساد سره مبارزه یو ځانګړی علم نه دی. البته موږ هڅه کړې چې اساسي اصول او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ډېرو بریالیو تګلارو ځانګړتیاوې به دې ستراتژۍ کې ځای کړو. خو داسې برېښي چې زیاتره ځوابونه په دې اړوند چې کوم څېزونه اغیزمن دي، د ملي رهبرۍ، فرهنګ، تاریخ او د ټولنیزو اړیکو په څېر په نه لمس وړ ځانګړتیاوو پورې تړاو لري. دوه یم، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې بریالۍ ستراتیژي، د بشپړېدو لپاره زیات وخت ته اړتیا لري. په نړۍ کې د پرمختیا او شخړو ترعنوان لاندې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د نړیوال بانک رپوټ، د دې څرګندوی دی چې له شخړو څخه وروسته بیا جوړونه په منځنۍ ډول ۳۵کاله دوام کوي. د هغو سازماني ستونزو او مسایلو په پام کې نیولو سره چې د اداري فساد تل یادېږي، د اداري فساد پروړاندې مبارزه د اوږدې لارې وهل دي[۱].

هغه پراخې سیاسي خبرې اترې چې عمومي ناهیلې تررسیدګۍ لاندې ونیسي، له هغو اقداماتو سره جوخت چې دغه حس پیدا کړي چې هېواد په سمه لاره روان دی او د اوږدمهال سیاسي ثبات د دورې په لور ګام اخلي، کولای شي د

[۱] د فساد د اصلاحاتو په اړوند د اروپا د اتحادیې پراخې څېړنې ښیي چې استونیا او ګرجستان په شان هېوادونو کې چې تر ټولو چټکې کړنې لري، څېړنه، د فساد ضد دوو لسیزو دوامداره هڅو اصلاحات رانغاړي. د جنوبي کوریا په شان له متناقضو اصلاحي برنامو سره هېوادونو کې، اصلاحاتو څه د پاسه نیمه پېړۍ دوام وکړ. رجوع دې وشي: Anticorruption Policies Revisited: Global Trends and European Responses to the Challenge of Corruption (http://anticorrp.eu/)

اداري فساد پروړاندې د مبارزې په ملي مشارکت کې له اصلاحگرانو سره مرسته وکړي[١].
په ټوليز ډول بايد ووايو چې دغه ستراتيژي د لارې نقشه او د هغې د پلي کولو وسيله بيانوي.

## ٢. د ستونزو او د هغو د عواملو تشخيص

اداري فساد نه په طبيعي ډول افغانستان ته راغلی او نه د افغانستان د خلکو په فطرت او اخلاقو کې شتون لري. په افغانستان کې د اداري فساد پروړاندې مبارزه ښې حکومتوالۍ او د قانون د واکمنۍ په ارزښت پورې له اړوندو فرهنگي، مذهبي او علمي ميراثونو پر بنسټ صورت مومي. د اسلام مبين دين د حلالو عوايدو د ترلاسه کولو په اړوند خرگند او غوڅ حکمونه لري او د حلالو عوايدو په ترلاسه کولو او په دې چې د يوه مسلمان عوايد بايد د بډې، غلا او د غصب له لارې ترلاسه نشي، ټينگار کوي، د خواجه عبدالله انصاري، اميرعلي شيرنوايي، خوشحال خان ختک او د فيض محمد کاتب په گډون افغان پوهانو په حکومتوالۍ کې د عدالت د بېلابېلو ابعادو په اړوند، ښې نظريې او قانع کوونکي دلايل وړاندې کړي دي.افغانستان په عدالت يو معتقد هېواد دی او د عدالت په اړه پياوړی فرهنگي بنسټ لري، قراردادونو او د مالکيت حقوقو ته درناوی لري او اغيزمن او پياوړي نظام ته د قدر په سترگه گوري.
د قانون واکمنۍ ته دغه دوديز درناوی تظاهر ندی. بين المللي څېړنو ښودلې ده چې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کار کې مثبت بدلونونه د اداري فساد د محو کولو د تخنيکي حل لارو په نسبت د قانون په واکمنۍ کې له عمومي پرمختگ سره زيات تړاو لري[٢]. په قانون او عدالت د افغانانو کلکه عقيده د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په برياليتوب د هيلې لپاره ښه دليل دی. په افغانستان کې د اداري فساد ستونزه له څلوېښت کلني بحران او په حکومتوالۍ کې د سياسي اجماع له نشتوالي سره مستقيمه اړيکه لري. ددغه بحران په بهير کې ډول ډول وسلې او زياتې پيسې په کمزوري کنټرول او په کم شفافيت سره هغه هم د داسې ادارو په نشتوالي کې چې د څارنې ځواکمني ولري هېواد ته راغلي. له ٢٠٠١ ميلادي کال وروسته، په بيا جوړونه کې بېړه، د پلان جوړولو، مديريت او د ښې څارنې مخه ونيوله. په همدې حال کې بيا ناامني، او په سياسي او امنيتي ثبات نه ډاډ، خلک دې ته اړ کړل چې يوازې په ژوندي پاتې کېدو قناعت وکړي. ځکه د اوږدمهال ثبات نه شتون، د هغوی لومړيتوبونه لنډمهالو لاسته راوړنو ته متوجه کړي دي، دغه حقيقتونه په تاريخ کې ثبت شوي دي او په دې ستراتيژۍ کې تر بحث لاندې نه نيول کېږي. خو په دې ځای کې لازمه ده څو اساسي مسئلې تر پاملرنې لاندې ونيول شي:
لومړی: لکه څنگه چې له جگړې څخه په زيانمنو شوو هېوادونو کې  د اصلاحاتو له بهير سره د مرستې په اړوند د نوي مشاکت (New Deal) په خبرو کې يادونه شوې ده، په بهرنيو مرستو د تړل کېدو له منفي اغيزو څخه يوه، په دولتونو کې د نظم اخلال دی. افغانستان چې په بهرنيو مرستو يو تړلی هېواد دی، په ټولو کچو کې، د نظم د اخلال شاهد دی او د دندو په ترسره کولو کې له کمزورتيا او کميو، د دندو او مسووليتونو له تداخل سره لاس او گريوان دی او دغه حالت له اغيزمنې څارنې يا کنټرول څخه خلاص چاپيريال رامنځته کړی دی.[٢]

[١] لازمه ده د خلکو د غېږونو د رسولو او ددغې کرغېړنې پديدې د پای ته رسولو لپاره درول د لوبولو په خاطر د خلکو اړتياوو ته د ځواب ورکولو په مقصد مشخص اقدامات ترسره شي.
[٢] د فساد په وړاندې مبارزه کې د موجودو زمينو پر بنسټ ټاکنې: زده شوي درسونه، -Alina Mungiu  Pippidi (NORAD, 2011)

دوه یم: د جګړې او بحران په دوران کې د پرمختللو او مډرنو سیاسي بنسټونو نه شتون په دې معنا وو چې د مفسدو شبکو د قدرت دوام د سیاسي نخبګانو توافقي غوراوی شمېرل کېده.

د افغانستان د حکومتوالی په تګلاره کې چې یووالی او پیوستون پکې کمزوری معلومېږي، قراردادونه، په دولتي پستونو کې ټاکنې او د بودجې تخصص له نوي تاسیس شوي حکومت سره دسیاسي مشرانو د وفادارۍ له لاملونو څخه یو لامل دی. ټاکنیزو سیاستونو، د پلویانو د ملاتړ د جلبولو لپاره له نغدې ورکړو څخه د ګټې اخیستنې موډل زیات پیاوړی کړی دی. د ټاکنو پربنسټ سیاسي نظام هم د سیاستوالو ملاتړو ته د مکافاتو د ورکولو تګلاره هم بنسټیزه کړې ده.

دریيم: اصلاحي غورځنګونه اصلاحګرانو ته اړتیا لري. په اوس وخت کې د اصلاحګرانو لپاره د ګوتو په شمار هڅونې شتون لري. یو صادق دولتي کارکوونکی په حقیقت کې یو بې وزله کارکوونکی دی.

شغلي مصونیت کمزوری دی او لوړپوړي اصلاحګران زیاتره د سیاسي غچ اخیستنې او لاس وهنې له خطر سره مخامخ کېږي. د ملکي خدمتونو د کارکوونکو ترمنځ زده کړې او مدیریت په داسې ډول نه دي چې د اصلاحګرانو ترمنځ ډلییزه روحیه رامنځته کړي.

څلورم: دولت ته د ټولنې د قدرتمنو کسانو د وفادار کولو او ژمن کولو لپارهله اداري فساد څخه ګټه اخیستنه د یوې وسیلې په توګه په تدریج سره رواج موندلې ده. اداري فساد نور د افرادو له خوا له قانون څخه په سرغړونې پورې محدود ندی بلکې په هغو ټولو سکتورونو پورې اړه لري چې له غیر رسمي قواعدو او کړنو څخه په ګټې اخیستنې سره، د پیسو د پیدا کولو فرصتونه، د عامه خدمتونو په وړاندې کولو غوره بولي.اداري فساد ددولت په ټولو برخو په تېره بیا په لاندې څلورو برخو کې واکمن دی:

لومړی او تر ټولو زیات، امنیتي سکتور د زیاتو پیسو د ترلاسه کولو لپاره د قدرتمنو کسانو د شخړې په ډګر بدل شوې دی. دفاعي قراردادونو ته لاسرسی د عاید یوه اساسي سرچینه شمېرل کېږي او په هغو کې فساد د دغو افرادو د اقتصادي ځواکمنتیا لامل شوی دی.

دوه یم، په امنیتي سکتور کې اداري فساد په نورو سکتورنو کې فاسدو کسانو ته له تاوتریخوالي څخه د ګټې اخیستنې یا په هغو باندې د ګواښ کولو زمینه برابره کړې ده، ترڅو له دې لارې آن په نورو اقتصادي سکتورونو کې د لازمو اقداماتو مخه ونیسي . په امنیتي سکتور کې فساد نورو مفسدینو ته هم ددې قدرت ورکړی دی چې آن په نورو سکتورونو کې هم د تاوتریخوالي له ګواښ څخه په ګټې اخیستنې سره د تاراج غچ پیاوړی کړي. هغه ځوانان چې ځان بې قدرته احساسوي او خپله انګیزه له لاسه ورکوي په هغه صورت کې چې له فاسدو ډلو سره یوځای نشي-، د ځان او د خپلې کورنۍ پروړاندې له تاوتریخوالي څخه د ډکې غچ اخیستنې څخه ډار لري.

دریيم، په انحصار کې د ادارو نیول او په حکومت کې له واک څخه ناوړې ګټې اخیستنې پراختیا موندلې ده. فاسدو مقاماتو، سکتوري بنسټونه ګډوډ کړي دي.په پستونو لاس رسی، د قراردادونو لاسلیک او د خدمتونو وړاندې کوونکو شرکتونو ته ورکړې (پرداخت ها)، د فاسدو مقاماتو له لوري کنټرولېږي. عامه تدارکات ددې پر ځای چې ددولت د مالي ګټو د ترلاسه کولو لپاره یو دولتي میکانیزم وي، بډې ورکوونکو ته د مکافاتو په یوې وسیلې بدل شوي دي. آن ځواب ورکوونکي میکانیزمونه کولای شي له عدلي تعقیب څخه د دوی د ساتنې په خاطر له مالي مجرمینو څخه د بډې غوښتې له لارې، د پیسو د پیدا کولو د نویو طرحو په رامنځته کېدو تمام شي.

څلورم، په پای کې باید وویل شي سیاسي مشران د ملي ګټو پرځای خپلو پلویانو ته د مکافاتو د ترلاسه کولو په فکر کې دي او په همدې دلیل داداروسیاسي پستونه او دولتي پستونه اشغال زیات شوی دی. د سیاسي ګوندونه کمښت، مبهمو مقرراتو د کمپاینونو تمویل او د څواب ورکولو د داخلي سیستمونو نشتوالی پارلمان د غصب او فساد له پلوه زیانمن کړی دی او لکه څنګه چې د پراخي عمومي نارضایتي سبب شوی دی. سیاسي فساد ددې سبب شوی چې د ټاکنو له دستګاه او له دیموکراسۍ څخه هم د اشخاصو له لوري د شخصي ګټو لپاره ناوړه ګټه اخیستنه وشي، په تېره بیا د هغو کسانو له لوري چې زیاتې توري او غیرقانوني پیسې په واک کې لري. نو په دې ترتیب، دغه شان کسان، د اصلاحاتو لپاره ددولت هڅه او هاند سبوتاژ کوي او سیاسي مقاماتو ته دا فرصت برابروي چې له سیاسي قدرت څخه په ګټې اخیستنې سره خپل پلویان تعیین کړي او له هغوی څخه د کورنیو ریفورمونو د سبوتاژ کولو په لاره کې کار واخلي.

## ۳. د افغانستان له اداري فساد سره د مبارزې ملي ستراتیژي

د اداري فساد پروړاندې د مبارزې لپاره ددولت په ستراتیژۍ کې، د سیاسي مشرانو د نظریو اختلاف او بیلوالی، ددولتي پستونو او منصبونو اشغال او له عدلي او قضایي تعقیب څخه معافیت، د اداري فساد اساسي عوامل بلل شوي دي. ددولتي منصبونو اشغال او د اداري فساد نور موارد د هېوادوالو او دولت ترمنځ د وفادارۍ او ژمنتوب کمزورتیا په څان پسې لري. د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ستراتیژۍ موخه یوازې د اغیزمنتوب زیاتوالی او د ضایعاتو مخنیوی نه دی بلکې پهدولت او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو په کارکوونکو د هېوادوالو د اعتماد بیا پیدا کول چې د ملي ګټو لپاره فعالیت کوي، هم یوه اصلي موخه ده. که څه هم د اداري فساد لومړی دلیل هغه دولتي مقامات دي چې په فریب سره، ملي ګټو ته زیان رسوي.

که څه هم د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره په لوړه کچه ژمنه، د بریالیتوب لپاره، لومړی لازم شرط دی خو په دېستراتیژۍ کې زموږ اصلي حل لاره،ددې په اړوند چې فساد به نور د زغم وړ نه وي، د یوه ډله ییز اقدام څخه زېږنده د یوې ملي اجماع جوړول دي. په یوی اغیزمنې رهبرۍ د حکومت د رهبرۍ د ژمنې بدلون د اصلاحګرو مشرانو او د هغوی د څواکمنو ټیمونو او شبکو ملاتړ ته اړتیا لري چې وکولای شي پالیسۍ پلي کړي او هېوادوال په دې مبارزه کې شامل کړي ترڅو د هغوی د پرمختګ بهیر وڅاري.

کـه چېرې د فساد فرصتونه لـه منځـه لاړ شي او دولتـي اداري د رقـابتي او شـفافو بهیرونـو پربنسـټ اداره شي او پـه سرغړوونکو د مؤیداتو پلي کول حتمي شي، د اداري فساد پر وړاندې مبارزه بریالیتوب ته رسېږي. په عامه سکتور کې د پلي کولو په پړاو کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ملي ستراتیژي، له ټولو مخکې په امنیتي سکتور کې په تېره بیا په پولیسو پورې په اړوندو چارو، د ملکي خدمتونو په تعییناتو، عدلي او قضایي ارګانونو او د عامه مالونو د لګښتونو په اړوند د تصمیم نیونې لپاره په واکمن مالي نظام کې پلي کېږي. د ځمکې د مدیریت او وېش مسئولو ادارو ته دې هم باید پاملرنه وشي، ځکه د ځمکې غصب پراختیا موندلې ده او که چېرې د مخنیوي لپاره یې لازم اقدامات ونشي، عامه ملکیتونه به له منځه لاړشي.

ترهغه وخته پورې چې دغه اصلي بنسټونه د اداري فساد پروړاندې د مبارزې لپاره لازم مخکیني شرطونه رامنځته نکړي

حتي د اداري فساد د هڅوني او رامنځته کولو د زمينو په له منځه وړلو کې به د لوړپوړو مقاماتو محاکمه، هم بنسټيز بدلون رامنځته نکړي.

د ملي يووالي د حکومت له پيل څخه، د اداري فساد پر وړاندې مبارزه د هغه په کاري لومړيتوب کې ځاى نيولى دى او دغه ستراتيژي د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره ددغه حکومت د دريې کلنو فعاليتونو دوام دى. په لومړي کال کې د ملي يووالي حکومت د لوړپوړو کسانو د محاکمه کولو لپاره په سملاسي اقداماتو تمرکز وکړ چې د اصلاحاتو لپاره زمينه برابره کړي، چې د کابل بانک قضيه يوه مهمه قضيه وه. په همدې حال کې حکومت د اوږدمهالي ستراتيژۍ د برابرولو لپاره يوميکانيزم جوړ کړ چې د سيستم د اصلاح لپاره له انفرادي اقداماتو څخه زيات، عمل وکړي. په دغو تدبيرونو کې د وړتيا د اصل پر بنسټ استخدام (وروستي څېړنې ښيي چې دا د فساد پروړاندې د مبارزې يو يواځينى او ډير اغيزمن چلند دى)، د تدارکاتو اصلاح او د بودجې د مديريت ښه والى شامل دي چې په عامه لګښتونو د پاليسې جوړوونکو د څارنې زمينه برابره کړې.

د افغانستان د سولې او پرمختيا ملي چوکاټ چې د ۲۰۱٦ ميلادي کال په اکتوبر کې د بروکسل کنفرانس ته وړاندې شو، لاندې اته لومړيتوب لرونکي ساحې لري:

۱- د عامه تدارکاتو د بهير اصلاح؛

۲- د قانون د واکمنۍ او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د عالي شوري جوړول؛

۳- د وزارتونو لپاره د عمل د پلانونو برابرول؛

۴- د درندو جرمونو د څيړنې او بررسۍ په مقصد د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د عدلي او قضايي مرکز جوړول او ملاتړ؛

۵- د څارنوالۍ د قاضيانود شموليت د آزموينې او دداخل خدمت د آزموينو الزامي کول؛

٦- د هېواد د څلوردېرشو ولايتونو د استيناف د محکمو د رئيسانو تغير او بدلون؛

۷- له الکترونيکي ورکړې او تدارکاتو څخه د ګټې اخيستنې زياتوالى؛

۸- د نېشه يي توکو پروړاندې د مبارزې د ملي عمل د پلان د تطبيق د بهير ګړندي کول؛[۱]

پورتني ټول اته ګوني لومړيتوبونه يا بشپړ شوي او يا هم د تطبيق په حال کې دي. له ځرګندو مواردو څخه، د ملي تدارکاتو د ملي اداري اجراآت دي. دغې ادارې څه ناڅه ۱۵۰۰ قراردادونه بررسي کړي دي چې له امله يې څه د پاسه ۲۰۰ ميلونه آمريکايي ډالره سپما شوې ده. دغه راز د اداري فساد پروړاندې د مبارزې عدلي او قضايي مرکز په ۲۰۱٦ ميلادي کال کې د جوړېدو له وخت څخه تراوسه پورې د اداري فساد ۳۱۵ قضيې تعقيب کړې دي‌او د حقوقي پوهې د سويې د تثبيتولو لپاره، له څارنوالانو او قاضيانو څخه ليکلې آزموينې اخيستل شوې دي.

د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په ستراتيژيو کې يوه ستونزه دا ده چې په هغو کې يوزيات شمير غيرمتجانس اقدامات وړانديزيږي که څه هم ګټور دي خو د هغو ترمنځ د اړيکو لپاره منطقي دليل شتون نه لري. په افغانستان کې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې ستراتيژۍ هم له دغې ستونزې څخه خوندي نه ده. په دې اړوند چې ولې ځينې فعاليتونه په لومړيتوب کې ځاى نيسي او څه ډول له يو بل سره اړيکې لري د منسجم تحليل په نه شتون کې، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې استراتيژۍ د ښو خو غير اغيزمنو او غير عملي هيلو او ارزوګانې په لست بدليږي.

---

[۱] د افغانستان د سولې او پرمختيا ملي چوکات، ۲۰۱۷-۲۰۲۱

## ۴. د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ملي ستراتيژۍ لومړيتوبونه

د هغه څه پر بنسټ چې وويل شول، هڅه مو کړې ده په دېستراتيژۍ کې ځينې لومړيتوب لرونکې موضوعګانې طرحه کړو. زموږ په باور دغه لومړيتوبونه د اصلاحاتو د رامنځته کولو لپاره يو لړ جدي او د اعتماد وړ اقدامات او تدبيرونه برابروي. دغه لومړيتوبونه لکه څنګه چې وړاندې هم يادونه يې وشوه، پر پنځو محورونو تکيه لري او د هريوه محور لپاره، لومړيتوب لرونکې اقدامات، تعريف شوي دي چې حکومت به يې له ۱۳۹۶ کال څخه د حکومت تر پای پورې په ۱۳۹۸-۱۳۹۹ کلونو کې ترسره کړي.

### لومړی محور – سياسي رهبری او د ځواکمنو اصلاح ګرانو له شبکې څخه ملاتړ

په سياسي برخه کې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې لپاره د افغانستان ملي ستراتيژي، په دريو لومړيتوب لرونکو مسئلو تمرکز لري:

۱- **د عادلانه ټاکنو له ترسره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کول:** که څه هم د اداري فساد پروړاندې مبارزه به اوږدمهاله وي خو د ټاکنو په بهير کې دسياست او پيسو ترمنځ دې اړيکه وشلېږي. په دې برخه کې له ټکنالوژۍ څخه ګټه اخيستنه مرسته کولای شي. ټاکنې بايد عادلانه، خوندي او رقابتي وي. افغانستان به د الکترونيکي هويت له کارتونو (بايوميټريک) او د الکترونکي رايې ورکولو د ماشينونو له درولو څخه د ګټې اخيستنې بهيرونه ګړندي کړي. دا د ټاکنيزې درغلۍ د کمښت او د فساد له لارې قدرت ته د رسيدو د مخنيوي لپاره مهم تدبيرونه دي. د اجرايه قوې په شان، قضايه قوه او مقننه قوه هم بايد د مفسدانه عملونو پروړاندې د مبارزې او د شتمنيو د سند د خپرولو په کار کې چټکتيا پيدا کړي. د ټولنې د مشرانو، د خپلو، د خپرولو او ضوابطو پربنسټ له اداري فساد سره د مبارزې ستراتيژي، دعامو خلکو لپاره رامنځته او نافذه کړي.

**لومړی محور: سياسي رهبري او د ځواکمنو اصلاح گرانو شبکه**

افغانستان د اداري فساد پروړاندې د مبارزې او په حکومت کې د شفافيت د اعاده کولو لپاره د لوړو مقاماتو سياسي ژمنه له ځان سره لري خو په اغيزمنو اصلاحاتو د سياسي ژمنو د بدلولو لپاره، بايد د اصلاح گرانو ساتنه او ملاتړ وکړو او د اصلاحاتو شبکې لوړې کړو. حکومت په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۹ کلونو ترمنځ دغه چارې ترسره کړې:

- په ملي کچه د کلنيو غونډو جوړول او د اړيکو ټينگښت او د جمهوررئيس او اجرائيه رئيس په مشرۍ د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ستراتيژۍ په باره کې د خبرو ترسره کول؛
- د ۲۰۱۹ کال د جمهوري رياست د ټاکنو لپاره د ټاکنيز شفافيت په هکله د ډاډ د ترلاسه کولو په خاطر د ملي مشورتي شوري جوړول؛
- په ټولو سترو ښارونو کې له بايو ميټريک څخه په استفادې سره د رايې ورکولو د ټکنالوژۍ د کارولو پراختيا؛
- د لوړپوړو مقاماتو د شتمنيو د ثبت، بررسۍ او خپرولو د شرايطو له بشپړ (په سلو کې سل) رعايتولو ټينگار؛
- د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د پارلماني عمل د پلان د برابرولو لپاره د ملي شوري د رهبرۍ د ملاتړ ترلاسه کول؛
- د فاسدو اشخاصو د عدلي تعقيب د ښه والي او د هغو شتمنيو د ضبتولو په مقصد چې په غير قانوني ډول ترلاسه شوې دي د مدني او جزايي قوانينو ماهيتي او شکلي بيا کتنه؛
- له دولتي پستونو څخه د اداري فساد د مجرمينو د محروميت آسانول؛
- د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د کارکوونکو او د اداري فساد د افشاگرانو د ساتنې او ملاتړ د قانون تصويب؛
- د قانون د واکمنۍ او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د عالي شوري سمون او پياوړتيا؛
- د اساسي قانون د ٦٩ مادې په رڼا کې د جمهوري رياست د دفتر لپاره د څيړنې او د لويې څارنوالۍ له دفتر سره په اړيکه کې ديوې خپلواکې اداري جوړول؛
- د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کار کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د فردي او ډله ييزو لاس ته راوړنو د ستاينې لپاره د جايزو دورکولو د برنامې معرفي کول؛
- په ملي رسنيو کې د اداري فساد پروړاندې په مبارزې پورې د اړوندو پرمختگونو په باره کې د خبرو لپاره د لوړپوړو مقاماتو د عامه پوهاوي د فعاليتونو پراختيا؛
- د ماليې په وزارت او په عايداتي وزارتونو او په لوړو لگښت لرونکو وزارتونو کې د اصلاحي شبکو جوړول؛
- د لوړپوړو امنيتي مقاماتو د انتصاب لپاره د خپلواک بورډ پياوړتيا – او
- په عايداتي او د عوايدو په لگوونکو وزارتونو کې د قوانينو له تنفيذ څخه څارنه« پرانيستی حکومت»؛

**۲. د اصلاحگرانو مصؤنيت:** افغانستان د رسنيو د آزادۍ او د مدني ټولنې د ساتنې په برخه کې قانوني تضمينونه او عملي تجربې لري. خو بايد په ادارو کې هم د اصلاحگرانو يوه ځواکمنه او ژمنه شبکه وگمارل شي او د هغوی او د مدني ټولنې ترمنځ مناسبې کاري اړيکې رامنځته شي او بايد هغوی مناسب امتيازات ولري او له غچ اخيستونکو او

سیاسي بریدونو څخه مصؤن وي. ددغو اقداماتو برابرول د ملي رهبرۍ اساسي مسئولیتونه دي. باید د اداري فساد د خبر ورکوونکو، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د کارکوونکو مصئونیت د قانون په تصویبولو سره تضمین شي. په اوس وخت کې، حکومت د تبرئې او محکومیت د حالت لپاره څرګند قوانین نلري او له همدې امله اصلاحګران د تورونو او ابهاماتو له خطر سره مخامخ دي او دغه راز په دولت کې د اصلاح ګرانو د ټولنې د منسجم کولو او د اصلاحاتو په پرمخ بېولو کې او یا د عامه زده کړې لپاره د هغوی د رول په هکله،مدني ټولنې ته لږ فرصتونه شتون لري.

**۳. د نمونې رهبرۍ وړاندې کول:** دافغانستان سیاسي مشران باید خلک د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کار کې دخیل او شریک کړي. د ارزښت محورو سیاستونو رامنځته کول او پیاوړتیا د ځوان نسل او د سیاسي مشرانو او فعالانو بحثونو او د رایو اتفاق ته اړتیا لري. جمهوررئیس باید د اداري فساد پروړاندې د مبارزې موضوعګانې او اړوند اخلاقي اصول نه یوازې په کابل کې بلکې په ټول هېواد کې په خپلو ولایتي سفرونو کې رهبري کړي. د قانون واکمنۍ ته د مقاماتو ژمنه، د حکومت په اجراآتو کې زیات شفافیت، له رسنیو سره زیات کار، د عالمانو او د اقتصادي فعالانو له خوا ملاتړ، د عدالت غوښتونکو اوافشاګرو ډلو لپاره دوامداره آزادي او د مدني حقوقو په هکله د خلکو زیات پوهاوی د دولت د حساب ورکونې د لوړولو لپاره له مهمو اقداماتو څخه بلل کېږي.

## دوه یم محور – په امنیتي سکتور کې د اداري فساد له منځه وړل

د افغانستان امنیتي سکتور څه د پاسه ۳۵۰۰۰۰ پوځي منسوبین او کارکوونکي لري چې کال په کال له کورنۍ بودجې او بین المللي مرستو څخه په ملیاردونو ډالره ترلاسه کوي. د امنیتي سکتور اصلاح به د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کار کې مهم عامل وي. افغانستان یو داسې هېواد دی چې همدا اوس د جګړې په حال کې دی. په دفاعي ځواکونو او د پولیسو په لیکو کې اداري فساد د سر، ځمکې او د خلکو د باور د له منځه وړلو په بیه تمامېږي.

د ملي اردو اصلاح ښه پرمختګ درلودلی دی. د اصلاحاتو عمومي پلان[1]، د غوڅ ملاتړ ماموریت په همکارۍ جوړ شو. خپلواکو کتونکو تائید کړې ده چې دغه پلان کولای شي د اداري فساد د کمښت، د ځواکونو د اغیزمنتوب د زیاتوالي او په ټولیزه توګه د پوځي خدمتونو د مسلکي کولو سبب شي. دغه پلان به د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کار کې د دفاع وزارت لپاره یو لاربنود وي. زیات کارونه دي چې باید ترسره شي. خو عمومي بهیر مثبت دی او ددفاعي ځواکونو روحیه او اغیزمنتوب د ښه والي په حال کې دي.

د کورنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو رامنځته کول چې پولیس اداره کوي، له مهمو لومړیتوبونه څخه دي.د کورنیو چارو وزارت په هکله د حکومت د ارزونې په پایله کې، خیالي پولیس، د بستونو پلورنه، په غیرقانوني ډول د وسلو او تجهیزاتوپلورنه، د شخصي مقصدونو او قاچاق لپاره څخه ګټه اخیستنه هغه مسئلې دي چې باید د اداري فساد او د سازمان موندلو جرمونو پروړاندې د مبارزې په کار کې تر رسیدګۍ لاندې ونیول شي. له اداري فساد سره د مبارزې په کار کې هڅه به د لوړپوړو افسرانو د مسلکي بررسۍ د فاسدو کسانو د عاجل عدلي تعقیب او قانون تعقیب سره یو ځای په امنیتي سکتور کې د زیانونو د موثقي ارزونې[2] په ګډون وي.

[1] د امنیتي او دفاعي ځواکونو پنځه کلن عملیاتي پلان ۲۰۱٦

[2] یوه موثقه ارزونه دغه موارد رانغاړي: (۱) پلان جوړونه او د بودجې ټاکل؛ (۲) حسبابداري او راپور ورکونه؛ (۳) تدارکات او د قراردادونو مدیریت؛ (۴) د معاشونو ورکړه او د پرسونل مدیریت؛ (۵) د موجودو اقلامو مدیریت او له هغوی څخه ګټه اخیستنه؛ او (٦) مالي اجراات.

د افغانستان د خلکو لپاره د پوليسو د خدمتونو د ترسره کولو په څرنګوالي کې د اداري فساد د پای ته رسولو اهميت د کورنيو چارو په وزارت کې د اداري فساد د پای ته رسولو په توګه اهميت لري. په دې برخه کې دولت په هغو برخو کې چې د کورنيو چارو وزارت له خلکو سره په مستقيمه اړيکه کې دی د خپل اصلاحي پروګرامونه، د تذکرې د وړاندې کولو، ترافيکو د مديريت او هېوادوالو ته د جرمي سوابقو د نه وړاندې کولو په ګډون پيل کړي او دغه بهيرونه به الکترونيک کړي.

**دوه يم محور: د امنيتي سکتور اصلاح**

د اداري فساد پروړاندې د مبارزې لپاره د امنيتي سکتور په پلان کې پنځه برخې شاملې دي. (۱) د استخدام لپاره د يوه څرګند بهير برابرول؛(۲) د دفاعي پلان جوړولو او د شفافي بودجې جوړولو په اړوند د ډاډ ترلاسه کول.

(۳) د معتبر ملکي کنټرول او خارنې د سيستمونو په لاره اچول؛ (۴) د خيالي پوليسو سرتيرو او افسرانو د استخدام د پديدې له منځه وړل ؛ (۵) له مدني ټولنې سره د امنيتي سکتور د بحث او خبرو اترو پراختيا.

له ۲۰۱۷ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې په مشخصه تدبيرونو کې به دغه اقدامات شامل وي:

- د کورنيو چارو په وزارت کې څواکمنه او غوره رهبري؛
- په لوړپوړو امنيتي پستونو پورې د اړوندو ټاکنو او ترفيع ګانو د لاربښود وړاندې کول ااو د پلټنې ترسره کول؛
- په داسې ډول د ټولو معينانو،عمومي رئيسانو او د پوليسو د قومندانانو بررسي او ټاکنه چې د اصلاحاتو برنامه يې غوښتنه کوي؛
- ددفاع وزارت او د پوليسو په دندو کې د وضاحت رامنځته کول، ددفاع وزارت ته د کورنيو چارو وزارت د عامه نظم د پوليسو او د سرحدي پوليسو لېږدونه او د ټولو لوړپوړو قومندانانو د کړنو بشپړه بررسي؛
- شکايتونو ته د رسيدګۍ لپاره د پوليسو د بازرس رامنځته کول؛
- د هغو قوانينو تشخيص او تعديل چې د امنيتي سکتور په اصلاح کې لازم دي؛
- د امنيتي سکتور د معتبرې زيان پيژندنې بشپړول؛
- د پرسونل د موجودې لست بشپړول او د خيالي پوليسو د مسئولو قومندانانو ګوښه کول او عدلي تعقيب؛
- د ټولو ولايتي امنيه قومندانانو بررسي او بدلون په هغه ډول چې د اصلاحاتو برنامه يې غوښتنه کوي؛ او
- د لاس رسي وړ ټولو ولسواليو کې په الکترونيک ډول د معاشونو د ورکولو پراختيا.

## دريیم محور – په استخدام کې د شايسته سالارۍ او په روابطو د ضوابطو د غوره بللو پربنسټ د ملکي خدمتونو د سيستم بنسټيز کول

شواهد ښيي چې په زياترو هېوادونو کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره يواځينۍ او ډېره مهمه لاره په استخدام کې پر روابطو د ضوابطو (شايسته سالاري) غوره بلل دي. په افغانستان کې د اداري فساد هرراز زيان پيژندنه به دې پايلې ته ورسيږي چې په ملکي خدمتونو کې د روابطو پر بنسټ ټاکنې ډېرې مروجې دي چې نه يوازې د اداري فساد سبب شوي دي بلکې د روابطو پر بنسټ د بې کفايتيو کمزورو کړنو او د قومي شخړو سبب شوي دي. د افغانستان د ملکي خدمتونو په ټاکنو کې د روابطو د اصل له منځه وړل، د اداري فساد پروړاندېد مبارزې لپاره د هڅو په لاره کې يوه

ډېره ستره ننګونه ده. د ۲۰۱۷ میلادي کال په لومړۍ نیمایي کې د ملکي خدمتونو د کمیسیون د تشکیل په نوي کولو سره یوه ستره لاس ته راوړنه ترلاسه شوه. په دې ستراتیژۍ کې په ټولیزه توګه په خپل ډیزاین کې له پورته څخه ترکښته پورې، باید داسې هڅونې او مصئونیتونه شامل وي چې اصلاحګرانو ته انګیزه ورکړي چې په ستونزو او آن په هغو خطرناکو ننګونو چې له اداري فساد سره د مبارزې یوه برخه ده، بریالي شي. په دغو کې به داداري فساد د افشاګرانو مکافات او ساتنه، د کارکوونکو د معاشونو او امتیازاتو په لوړولو کې بدلونونه او د استخدام او انفکاک د بهیرونو خپلواکه پلټنه شامله وي.

**دریيم محور: په استخدام کې د شایسته سالارۍ او په روابطو د ضوابطو د غوره بللو پر بنسټ د ملکي خدمتونو د سیستم بنسټیزه کول.**

حکومت مني چې د شایسته سالارۍ پربنسټ د ملکي خدمتونو رامنځ ته کول یوې اوږدمهالې هڅې ته اړتیا لري. په ملکي خدمتونو کې د اداري فساد او د روابطو د له منځه وړلو لپاره د زمینې د برابرولو کار پخوا پیل شوی دی. تصمیم لرو چې له ۲۰۱۷ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې لاندې اصلاحات رامنځته کړو:

- د هغو قوانینو او مقررو تصویب او تعدیل چې د ملکي خدمتونو د شفاف سیستم په بنسټیزه کولو کې لازم دي؛
- د ټولو بستونو عمومي اعلان؛
- د سیالۍ پر بنسټ له انتخاب څخه د ډاډ ترلاسه کول؛
- د وزارتونو د ټولو عمومي برخو (تدارکات، مالي مدیریت، د بشري منابعو پرمختیا) د رقابتي آزموینو، روزنې او د اعتبار ورکولو د مرکزي کولو بهیر؛
- د ملکي خدمتونو د روزنیز مرکز بیا احیا کول او د هغه د نصاب نوي کول، چې لږ تر لږه ۵۰۰۰ نوي مقرر شوي کارکوونکي به د عامه ادارې، د ملکي خدمتونو د جندر د پالیسیو او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په کورسونو کې زده کړې وکړي؛
- د بازار له معاشونو سره د ملکي خدمتونو د لوړپوړو کارکوونکو د معاشونو انډولیز کول؛
- د ریښتینو او هڅاندو کارکوونکو پیژندنه، ساتنه او ارتقا؛
- له ۵۵ کلنۍ څخه تر ٦۵ کلنۍ پورې ۱۰۰۰ تنه ملکي کارکوونکي به چې د دوولسمو ټولګیو فارغان دي او یا له دې څخه ښکته زده کړې لري، په الزامي ډول تقاعد کړل شي؛
- لږ تر لږه ۵۰۰۰ تنه زیات عمر لرونکي یا د کمزورو کړنو لرونکي کارکوونکي به استعفاء ته وهڅول شي یا به تحصیلي فرصتونه ورته برابر شي چې له دغو فرصتونو وروسته به هغوی په شرایطو برابر شي او یا دا چې له ملکي خدمتونو څخه به ووزي؛
- د سیمه ییزې حکومتوالۍ د ښه والي لپاره د ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسیون د مرکزي او ولایتي ادارو پیاوړتیا؛
- د حساب ورکولو د فرهنګ د رواجولو لپاره د عامه پوهاوي د یوه کمپاین په لاره اچول؛
- د ملکي خدمتونو په خپلواک کمېسیون کې د هېوادوالو د آنډونو د ترلاسه کولو د میکانیزم رامنځته کول؛
- د استخدام په سترو بهیرونو د څارنې لپاره مدنی ټولنې او رسنیو ته د میکانیزمونو رامنځته کول؛
- د شایسته سالارۍ پر بنسټ د تعییناتو او ارتقا په اړوند د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره د ښوونکو سیستماتیک استخدام؛

د ملکي خدمتونو د سیستم اصلاح، ددې لپاره چې بيا د ملي پالیسیو په اجراء کولو کې ددولت وسیله وي، په لاندې څلورو اقداماتو سره به پيل شي:

۱. **بې پرې او رقابتي استخدام** – د استخدام بهير بايد بې پرې او رقابتي وي. په اوس وخت کې د ملکي خدمتونو محدود شمېر بستونه د مشخصو دندو لايحه لري چې حساب ورکول سخت او خپل سري کوي. جوته ده چې د وزارتونو په کچه استخداموونکي رياستونه د مفسدينو د ځانګړې پاملرنې وړ ګرځيدلي دي. د ملکي خدمتونو تجديد شوی کمېسيون به د کانديدانو په بررسۍ او د استخدام د تګلارو په ارزونه کې پراخ رول ولري.

۲. **د اصلاحاتو لپاره د انګيزې ورکول** – د ملکي خدمتونو فرهنګ دې بايد بدل شي. دغه بدلون کېدی شي تر يوې کچې پورې د ښو شغلي تعليماتو او د زده کړې د زمينو د برابرولو، په ښه توګه د کړنو له مديريت او له مديريتي ټکنالوژۍ څخه د ګټې اخيستنې له لارې او ترېوې اندازې پورې هم د ښو مالي کنټرولونو په معرفي کولو سره ترلاسه شي ترڅو ډاډ حاصل شي چې هر شخص هماغه اندازه پیسې چې دده په نامه ورکول کېږي، په ريښتيني ډول تر لاسه کوي. د رتبو او معاشاتو تګلارې بايد په ډېر احتياط سره اصلاح او عملي شي.

۳. **په مشاغلو کې پانګونه** – په مشاغلو کې د پاتې کېدو لپاره د هڅو او ددولتي مشاغلو لپاره د لنډ مهال لرليد د فرهنګ له منځه وړل بايد په هغه حالت سره چې په هغه کې د منځمهال او يا اوږدمهال لپاره ددندې په دوام باور شتون ولري، بدل شي. د ملکي خدمتونو د روزنيز مرکز پياوړتيا او د ملکي خدمتونو د يوه ځواک د جوړولو لپاره د مديريت او رهبرۍ د کورسونو پراختيا چې په وزيرانو او د حکومت په رهبرۍ کې له بدلونونو څخه په لوړه کچه د خپلو خدمتونو د ترسره کولو او وړاندې کولو قدرت ولري لوړ اهميت لري. دولت دغه راز کولای شي ددولتي کورونو او د متقاعدينو د معاشونو د زياتوالی په ګډون د کارکوونکو د ښوکړنو لپاره زياتې ملموسې هڅونې وړاندې کړي چې البته دغه امتيازونه به کارکوونکي، په جرمونود محکوميت يا په نورو دلايلو د اخراج په صورت کې،له لاسه ورکړي.

۴. **د کړنو د مديريت بيا کتنه**– ددولتي کارکوونکو د ارزونې ميعيارونه بايد په لوړه کچه جوړ شي. د کارکوونکو له کړنو څخه ښه تعريف شوي ستېنډردونه، له دولتي تشکيلاتو څخه د کمزورو کارکوونکو ګوښه کول آسانه کوي.

## څلورم محور – د اداري فساد د تورنو تعقيب:

دولت د حقوقي چوکاټ د ښه والی او د فساد د عدلي تعقيب د ځواکمنې په مقصد پخوا يو لړ اقدامات پيل کړې دي. د جزا نوی کوډ به چې په هغه کط د اداري فساد موارد د ملګروملتو د سازمان له اداري فساد پرورانديې د مبارزې له کنوانسيون سره په سمون کې جرم بلل شوې دي، د ۲۰۱۸ ميلادي کال د فبروري په مياشت کې نافذ شي. ستره محکمې او لويې ځارنوالی چې جوړښتونه يې نوي بدل شوې دیپه دغو بنسټونو کې په هراړخيزو اصلاحاتو پيل کړې دي، په نتيجه کې يې په سلو کې دېرش تنه کارکوونکي د هغو په واک او شرايطو کې له بيا ځيړنې وروسته په مناسبو بستونو کې ټاکل شوی دي. د اداري فساد پرورانديې د مبارزې عدلي او قضايي مرکز د ۲۰۱٦ ميلادي کال په نيمايي کې جوړشوې دي چې د اداري فساد ستري قضيې تر عدلي او قضايي تعقيب لاندې ونيسي- او تراوسه پورې يې د يوشمير لوړپوړو مقاماتو په ګډون ۳۱۵ قضيې (۲۴۳ ملکي قضيې او ۷۲ نظامي قضيې) ترلاسه کړې دي. څه نا څه ۷۰ تنه سرغړونکی د منځمهال او اوږدمهال بند په مجازاتو محکوم شوې دي. په ځينو دغو قضيو کې لوړپوړي اشخاص هم

شامليږي. ددفاع او د کورنيو چارو وزارتونو څخه ۷ تنه جنرالان په درندو مجازاتو محکوم شوې دي. له ملکي اشخاصو څخه د ترانسپورټ، پوهنې او له نشه يي توکو سره د مبارزې د وزارتونو معيناناو رئيسان په بند محکوم شوي دي. د اداري فساد د دغه شمير قضيو څيړنه په خپل نفس کې په افغانستان کې سارى نه لري، سره له دی هم، ضروري ده چې له درندو جرمونو سره د مبارزې د رياست خپلواکي، واکونه او مهارتونه پياوړي شي چې په لوړو کچو جرمونو په بريالیتوب سره تر تعقيب او څيړنې لاندې ونيول شي.

په همدې حال کې ګډوډې دغه راز عدلي سکتور له ستونزې سره مخامخ کوي دغې مسئلې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې لپاره هلې ځلې چې د پنځلسو کميسيونونو او ادارو څيړنه پرغاړه لري چې هريوه يې له اداري فساد سره د مبارزې پّ کار کې په ناځيزې ځواکمنې سره متداخلې دندې لرې، زيانمنې کړې دي. ددغې ستونزې د حل کولو په موخه، دولت د ۲۰۱۶ ميلادي کال په وروستيو وختو کې د افغانستان د اسلامی جمهوريت د جلالتمآب جمهوررئيس په مشرى د قانون د واکمنۍ او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې عالي شوري جوړه کړه. دغه ستراتيژۍ په هکله د خبرو، د وظيفوي تداخل د ستونزو د حل کولو او د چارو د پرمختګ د بهير د څارنې په لاره کې يوه عالي مرجع ده.

**ځلورم محور: عدلي او قضايي اصلاحات او په فساد د تورنو کسانو تعقيب**

له ۲۰۱۷ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې به دولت دغه اصلاحات رامنځته کړي چې د عدلي او قضايي بنسټونو ښه والی له پلان څخه په واقعيت بدل کړي:

- د قضاييه قوې د خپلواکې او بی پريتوب د تثبيتولو او په قضايي تاکنو د څارنې په لاره کې د خپلواک قضايي کميسيون جوړول؛
- له اداري فساد سره د مبارزې په اړوند د قوانينو تشخيص او تعديل؛
- د بشري منابعو د بيا څيړنې بشپړول او د داسې کاري پلان اجراکول چې په ټولو محکمو کې د قاضيانو، څارنوالانو او د محررينو روزنه پکې شامله وي، د لويې څارنوالۍ تر رهبرۍ لاندې د څارنې او څيړنې له ګډې کميټې (MEC) او د اداري فساد له درندو جرمونو سره د مبارزې له عدلي او قضايي مرکز پرته د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ټولو ادارو سمون؛
- د لويې څارنوالۍ په اداره کې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د مرستيال د پسټ جوړول؛
- د عدليې په وزارت کې د تقنين، حقوقي او ددولت د قضاياوو د ادارو اصلاح؛
- د بين المللي موافقه ليکونو له لارې د اداري فساد د هغو تورنو کسانو د استرداد او د عدلي تعقيب د بهير ګړندي کول چې له هېواد څخه په بهر کې دي؛
- د لويې څارنوالۍ په واسطه د هغو ټولو قضيو بيا څيړنه او تعقيبول چې د حساب ورکولو د شفافيت د اداري په واسطه په ۲۰۱۳ ميلادي کال کې پيژندلې شوي وي؛
- په دی اړوند د ډاډ ترلاسه کول چې ټول ولايتونه په شرايطو برابر څارنوالان لري او امنو ولسواليو ته د څه ناڅه پنځوسو تنو څارنوالانو معرفي کول؛
- د مساعدتونو برابرونکې ټولنې لپاره د بودجې پر بنسټ د مالي ملاتړ په ګډون د حقوقي مساعدتونو پراختيا؛ او
- د عامه پوهاوې د زياتوالي او ددغه بهير د ملاتړ لپاره د مطبوعاتي کنفرانسونو جوړول او فعاليتونه؛

دولت به د اداري فساد پروړاندې د مبارزې ټولې اداري د لويې څارنوالۍ تر اداري لاندې منسجمې کړې. لوی څارنوال

به له فساد سره د مبارزې لپاره نوی او تکړه مرستيال وټاکي. د لويې ښارنوالۍ تر اداري لاندې ددغو ادارو توحيد د دې معنا لري چې دغه اداري ددولت تر عمومي جوړښت لاندې نيول کېږي او د ملي بودجې له لارې تمويلېږي. د قانون په واکمنې سره کولای شو د فاسدو کسانو عدلي او قضايي تعقيب ښه او تطبيق کړو. ددغې موضوع د څېړنې لپاره به چې کومې دندې بايد له لويې ښارنوالۍ څخه پرته، بل بنسټ ته وسپارل شي بيا کتنه هم د اړوندو کارونو د يوی برخې په توګه ترسره شي.[1]

ددغې ستراتيژۍ پربنسټ به روزل شوي ښارنوالان د ولسواليو په کچو مؤظف کړی شي او د ۲۰۱۸ ميلادي کال تر نيمايي پورې به په شرايطو برابر څه نا څه پنځوس تنه ښارنوالان امنو ولسواليو ته واستول شي. د محکموو اجرآت به په داسې ډول بدلون وموموي چې مسلکي عدلي او قضايي خدمتونه په مستقيم ډول خلکو ته وړاندې شي. د افغانستان د اساسي قانون ۱۲۸ ماده په ډاګه کوي چې « دافغانستان په محکمو کې، محاکمه په علني ډول ترسره کېږي او هر شخص ددې حق لري چې د قانون د حکمونو په رعايتولو سره پکې ګډون وکړي. محکمه کولای شي په هغو حالاتو کې چې په قانون کې ليکل شوي دي يا د محاکمې سري والی ضروري تشخيص شي، سري غونډې جوړې کړي خو د حکم اعلام بايد په هرحال کې علني وي.» مدني ټولنه او د هېوادوالو له حقوقو څخه د سيمه ييزې پوهاوی له پراختيا سره د مرستې لپاره دولتي تړون په شان ملي برنامې او همدا شان د محکمو د زماني جدول په شان اجرايي چارې او ارتباطي مسئولين به د ولايتونو او ولسواليو په کچه تر ګتې اخيستنې لاندې ونيول شي. عدلي او قضايي سکتور به د ښې حکومتوالی د ټينګښت لپاره د ملي لومړيتوب د برنامې له لارې د هېواد څلوردېرشو ولايتونو او ۴۴۱ ولسواليو ته پراختيا ومومي. دغه برنامه د تدوين په حال کې ده او دغه برنامه د ټولنې په کچه د عدالت د تحقق په لاره کې يو اساسي ګام دی چې په هغې کې زياته انرژۍ له دولت سره د خلکو د همکارۍ د جلبولو لپاره لګېږي.

## پنځم محور – سالم مالي او بودجوي مديريت او په شفاف او پلټنې وړ ټول د پيسو تعقيبول

سالم مالي مديريت د هر دولت لپاره د کليدي وړتيا مؤلفه ده. د افغانستان په شان په جګړې ځپلو دولتونو کې ضروري ده چې له مالي پاليسی څخه د ملي انکشاف لپاره د وسيلې په توګه کار واخيستل شي. بودجه بايد نه يواځې اقتصادي رول ولري بلکې بايد يوه داسې مجراوې چې دولت د هغې له لارې خپلې سياسي ژمنې او پاليسۍ اجراکړي. که څه هم له سيستماتيک اداري فساد سره مبارزه سخته ده، په تيره بيا د داسی بودجې په اړوند په هغه ځای کې چې کېدای شي په ميلياردونو افغانۍ له خطرسره مخامخې شي.

له ۲۰۱۵ ميلادي کال را په دې خوا افغانستان د مالي مديريت د ښه والي لپاره پنځه کلن تګلوری تعقيب کړې دی. د افغانستان د بودجې په بهير کې د اوسني شفافيت کمښت، اداري فساد پراخوي او ددی د تشخيص په لاره کې چې پيسې په کوم ځای او څه وخت له منځه تللې دي د اصلاح پالو وزيرانو او د هغوي د ټيم لپاره کار سختوي. په مشخص

[1] د افغانستان خلک بايد په دې باوري شي چې عدلي او قضايي تعقيب به منصفانه، د اتکل وړاو د هېواد د اساسي قانون پربنسټ وي، نه د شخصي-تصميمونو او يا د قومي او سياسي تړلتياوو له مخې د ملي او اغيزمن عدلي او قضايي سيستم جوړول اوږدمهال کار غواړي. د افغانستان اساسي قانون او د اسلام مقدس دين دولت د قانون په تطبيقولو ملزم بولي او دغه راز د عدالت د تأمينولو لپاره پراخ اصولي چوکاټ يې مخکې له مخکې جوړ کړی دی. اوس په سيمه ييزو کچو د قانون تطبيق کمزوری دی خو په ډير لنډ ممکن وخت کې به دغه وضعيت بدل شي.

ډول هغه ساحې چې ستونزې لري د لارې په نقشه کې په هرو دغو ساحو کې اصلاحات شامليږي.

د ملي بودجې په بهير کې اصلاحات ددولت د مالی مديريت د اصلاحاتو د برنامې اصلي وسيله ده، د بودجې د اصلاح بهير، د نويو پاليسيو او د سالم مديريت له لارې د عوايدو راټولول ښه کړې دي. دهغو غير اغيزمنو مقرراتو حذف چې په اداري لحاظ اغيزمنتوب نلري او د خطر د زياتوالي سبب کېږي او د رپوټ ورکولو نوې او آسان معيارونه چې په دولتي بانکونو کې شفافيت او حساب ورکول برابروي يوه جدي اړتيا ده. د مالي مديريت د اصلاحاتو چوکاټ په پراوييز ډول د راتلونکو پنځو کلونو په بهير کې ټولو عايداتي او لګښتي وزارتونو ته پراختيا ورمومي.

افغانستان لا تراوسه پورې هم د جزئياتو په کچه د مالي جرياناتو په څارنې د کافي کنټرول له نشتوالي سره مخامخ دي او په همدې دليل دغه اقدامات ضروري دي:

لومړی: موږ د پلټنې عالي اداره اصلاح کوو. په همدې موخه د پلټنې د عالي اداری قانون بايد تعديل شي چې د پلټنې د عالي اداری واکونه له اړوندو دندو سره يې متناسب شي.

دويم: موږ بايد په ټولو دولتي ادارو کې د مالي سټنډرډ سيستمونه تطبيق کړو. د مضاعفې حسابدارۍ (Double entry) د معلوماتي ټکنالوژۍ حسابدارۍ او د مالي رپوټ ورکولو د سيستمونو په ګډون د حسابدارۍ سټنډرډ نوي مفاهيم دي. موږ بايد د دغو سيستمونو د تطبيق په لاره کې حرکت وکړو ترڅو تضمين شي چې مالي جريانات په کافي اندازه ثبت شوې دي. موږ په پړاويز ډول د موبايل له لارې ددولت کارکوونکو ته د معاشونو د ورکولو په لور د حرکت په حال ک طيو.

دريېم: افغانستان لاتراوسه پورې هم د حسابدارۍ د قانون له نشتوالي سره د حسابدارۍ ميعيارونه تأمين کړي، مخامخ دي. له دې امله موږ به د حسابدارۍ د قانون تصويب کړو چې خپلواکه تنظيمونکې اداره به جوړه کړي چې محاسبانو ته جواز صادر کړي.

څلورم : مالي پلټنه بايد په ټولو دولتي ادارو، وزارتونو، تصديو او دولتي شرکتونو کې په معمول بهير بدله شي. موږ ددغه هدف په لور حرکت کړی دی؛ که څه هم موږ بايد د پلټونکو شمير زيات کړو او ټولو ادارو ته پراختيا ورکړو.

پنځم : دولت به د پيسو له سپينولو سره د مبارزې له ټولو امکاناتو څخه استفاده وکړي چې وکولای شي لـه اداري فساد ترلاسه شوی پيسې وپيژني، تعقيب يې کړي او بيا ضبط يې کړي. په کليدي اقداماتو کې به دغه مواردشامل وي:

١- د افغانستان بانک به مالي مؤسسو او بانکونو ته داسې لارښوونه وړاندې کړي چط د خطرونو مديريت ښه والی ومومي او د اشخاصو مشکوکې پيسې وپيژندلی شي.

٢- د افغانستان بانک به د هدفمندو څارنو له لارې د پيسو له سپينولو سره د مبارزې د قانون د اجراآتو په باب ډاډ ترلاسه کړي. د مثال په ډول د جګپوړو مقاماتو د شتمنيو د اعلاميو تايد به د جمهوررئيس د اداري دفتر مسئوليت وي.

٣- د افغانستان مالي معاملاتو او راپورونو د تحليل مرکز به اداري فساد په ځېلو اوپراتيفي او ستراتيژيکي تحليلونو کې د لومړيتوب په توګه په پام کې ونيسي.

شپږم : د شرکتونو او هغو نورو سندونو د حقيقي مالکانو د پلټنې رپوټونه چې مالي ځواب ويل بيانوي بايد په پراخه توګه دولتي سکتور ته ولېږدول شي چې د څېړنې وړ وګرځي او د حساب ورکولو په لاره کې د غوښتنې د پيدا کولو لپاره ورڅخه استفاده وشي.

**پنځم محور: سالم مالي بودجوي مديريت او د پيسو تعقيبول**

د پيسو تعقيبول او دا چې پيسې په کومه ځای کې ځي او څه وخت ورکړل شوي دي، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په ټولو فعاليتونو کې، ډېر اساسي رول لري. د بودجې د شفافيت د زياتوالی لپاره به په ۲۰۱۷ – ۲۰۲۰ کلونو کې په عامه مالي مديريت کې په دی ټول بنسټيزه اصلاحات ترسره کړو:

- تر ۲۰۱۹ – ۲۰۲۰ کلونو پورې د مالي کړنو د ښه والي د برنامې بشپړ تطبيق (د مثال په ډول د بودجې د اصلاح د لارې نقش؛
- د شتمنيو د جبري اعلام، په ټاکنو کې د اصلاحاتو او د رپوټ ورکولو په مقصد د ماليې وزارت د عوايدو او گمرکاتو د ډيپارټمنټ پياوړتيا؛
- د کليدي عوايدو (ماليات) د بهيرونو ګړندی کول او آسانه کول د پلټنې د عالي اداری د قانون د اصلاح له لاری د پلټنې د عالي اداری پياوړتيا؛
- د پلټنې په عالي اداره کې د ۱۵۰ تنو روزل شويو پلټونکو گومارل؛
- په اړوندو وزارتونو کې دداخلي پلټنيې د دفترونو پياوړي کول؛
- په کليدي، امنيتي، لګښتی او عايداتي وزارتونو کې د ۲۰۰ تنو داخلي پلټونکو روزنه ؛
- د حسابدارۍ د داسې قانون کارول چې ټولو عامه ادارو ته د حسابدارۍ ملي استندرډونه ټاکي؛
- د مالي شفافيت د ترسره کولو لپاره د اړوندو قوانينو پيژندنه او بيا څيړنه؛
- له اداري فساد څخه د رامنځته شويو شتمنيو د تشخيص، تعقيب او ضبط لپاره د پيسو له سپينولو کره د مبارزې له وسايلو څخه کار اخيستل؛
- د حسابدارۍ پلټونکو او شرکتونو ته د جواز ورکول؛
- د يوې څارنوالی اداری ته د افغانستان د مالي راپورونو او معاملو د تحليل د مرکز لېږدونه؛
- د بودجې او د قطعيه حساب د کلنيو پلانونو خپرول؛
- د بنسټونو په ويب سايټونو کې په تدارکاتو او پلټنې پورې د ټولو اړوندو مطالبو خپرول، له هغه مواردو پرته چې خپرول يې د امنيتي ملاحظاتو په خاطر منع شوي وي؛
- د پراخو تخنيکي تجربو وړاندی کولو ظرفيت جوړونې، د انکشاف د څارنې د مسئوليت او د امنيتي لګښتونو لپاره له نړيوالو شريکانو څخه غوښتنه؛
- له الکترونيکی ورکړو څخه پراخه استفاده او په ډېر لنډ ممکن وخت کې د هغو ثبت او د سوابقو ساتنه، د پراخو تخنيکي تجربو د برابرولو، ظرفيت جوړولو، د انکشاف د څارنې مسئوليت او امنيتي لګښتونو د برابرولو لپاره له نړيوالو شريکانو څخه غوښتنه؛
- له الکترونيکي ورکړو څخه د استفادی پراختيا او په ډېر لنډ وخت کې د هغو ثبت او د سوابقو ساتنه:

## ۵- هغه وزارتونه چې په لومړيتوب کې دي

هغه پنځه محورونه چې ددغې ستراتيژی په پخوانې برخه کې بيان شول، د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د معتبری برنامې د تدوين لپاره مخکينې شرطوندي. په دی برخه کې په کليدي وزارتونو کې د فساد پروړاندې په مبارزې تمرکز کېږي. په داسې حال کې چې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې عمومي کمپاين کې ددولت ټول اجراآت شاملېږي، دغه پلان به په هغو وزارتونو چې په عوايدو او لګښتونو کې زياتې اغيزی لري، تمرکز وکړي.

د اداري فساد پروړاندې مبارزې د وزارتونو په مشخصو پلانونو کار د تيرکال څخه پيل شوی دی، کله چې پنځو وزارتونو د فساد پروړاندې د مبارزې کاري پلانونه د څارنې او همغږی د ګډ بورډ په غونډه کې چې د ۲۰۱۶ ميلادي کال په اکتوبر کې جوړه شوی وه وړاندې کړل. د هغه وخت څخه تراوسه پوری شلو نورو وزارتونو هم د ډونرانو له ژمنې سره سم د فساد پروړاندې د مبارزې خپل پلانونه برابر کړې دي. د حيرانتيا ځای نه دی چې ددغو پلانونو کيفيت له يو بل سره زيات توپير لري او تطبيق يې هم په فرد پوری په منحصر ډول ترسره شوې وله د کاري پلانونو مهمې تشې او د حکومتوالي جوړښت نشتوالي پراخ بنسټه دی چې د کيفيت د کنټرول لپاره لارښود برابرکړی او دا چې زياتره لازم اصلاحات د وزارتو نه د کنټرول په چوکاټ کې نه دی او دا چې په افغانستان کې له پورته څخه ښکته ته د اطاعت يو سخت موډل، د اوسنيو مديريتی واقعيتونو او د مالکيت د کمزوری احساس سبب شوی دي، په داسی حال کې چې مرکز په يواځيتوب سره د مالکيت او مديريت د قوي احساس په تأمينولو بريالي ندي.

افغانستان څه نا څه ۲۵وزارتونه لري، که چېرې عالي کميسيونونه او نوری اداری ورسره جمع شي، د هغو دولتي بنسټونو شمير چې ديوه هر اړخيز پلان ترپوښښ لاندی نيول کېږي له ادارو څخه به هم زيات شي. سره له دی چې ټولی يې مهمې دي، دی ته اړتيا ده چې د وزارتونو د اداري فساد پروړاندې د مبارزې ملي ستراتيژی چې په سلو کې کابو ۷۰ عوايد او لګښتونه يې ځان ته اختصاص کړي دي، په لومړيتوب کې ونيسي او په هغو تمرکز وکړي. د عوايدو په برخه کې وزارتونه: ۱- د سوداګری او صنايعو وزارت، ۲- د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژی وزارت، ۳- د انرژی او اوبو وزارت، ۴- د کانونو او پټروليم وزارت ، ۵- ټرانسپورټ او د لګښتونو په برخه کې وزارتونه، ۱- د عامې روغتيا وزارت، ۲- د پوهنې وزارت، ۳- د کليو د بيا جوړولو او پراختيا وزارت، او د کار، ټولنيزو چارو شهيدانو او معلولينو وزارت شامل دي او د دوی ترڅنګ د ماليې وزارت هم ځانګړی اهميت لري، ځکه د ماليې وزارت د عوايدو او لګښتونو تنظيموني دي.

د وزارتونو د فساد پروړاندې د مبارزې تطبيق پالانونه د اصلاح په حال کې او يا د چمتو کېدو په درشل کې دي. دغه نهه وزارتونه، د خپلو اصلاح شويو پلانونو تطبيق د ۲۰۱۷ ميلادي کال په وروستيو وختو کې پيلوي. لاندينی جدول په استخراجي ضايعو کې د فساد د کمښت لپاره د پلان مسؤده طرحه کوي او د وزارت په کچه له فساد سره د مبارزې د پلان يو مثال وړاندې کوي. د پلان هدف د شفافيت تضمين دی چې د افغانستان طبيعي سرچينې د سالم ملي اقتصاد له پراختيا سره مرسته وکړی، نه له فساد بی ثباتې او تاوتريخوالي سره، سره له دی چې د وزارتونو مشخص پلان د يادونې وړ بنه والي سبب کېږي د استخراجي ضايعو لپاره د فساد پر وړاندې د مبارزې په هر اړخيزه برنامه کې دغه راز د ټرانسپورټ او ماليې وزارتونو، مرکزي بانک او له نورو بنسټونو سره همکاری شاملې دي چې په استخراجي صنايعو د فساد د پيدا کونکو فعاليتونو په له منځه وړلو کې اساسي رول لري.

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ملي ستراتيژۍ

| کړنه | معيار | مسؤوليت | د پای نېټه |
|---|---|---|---|
| د شفافيت پياوړې کول | د حقيقي مالکانو رسمي او علني ثبت | د کانونو وزارت | 2018جون |
| | د اعتبار ورکونې لپاره د شرط په ډول د طبيعي سرچينو د قرار دادونو اجباري خپرول. | د کانونو وزارت | 2018جون |
| | د افغانستان د کانونو قانون دې تعديل شي ترڅود پروژې په کچه د توليد د ارقامو تر خپرېدل الزامي شي. | د کانونو وزارت | دسامبر ۲۰۱۸ |
| | د استخراجي سکتور د ټولو عايداتو لپاره به د دافغانستان بانک کې يو شفاف حساب په الزامي ډول رامنځته شي او په منظم ډول دې خپرېدو ته وسپارل شي. شرکتونه د قانون له لارې د خپلو ورکړو د ترلاسه کولو لپاره لدې حساب څخه پر ګټې اخيستې ملزمېږي. | د ماليې وزارت | دسامبر ۲۰۱۸ |
| د استخراجي صنايعو د شفافيت د ابتکار | د ټولو قراردادي شرکتونو پلټنه دې بشپړ شي. | د کانونو وزارت | 2018جون |
| | (>5%)<br>کورنۍ پلټنه دې زياته شي | د کانونو وزارت | دسامبر ۲۰۱۸ |
| | ( EITI)<br>د استخراجي صنايعو د شفافيت د ابتکار تائيد | د کانونو وزارت | جون ۲۰۱۹ |
| هايدرو کاربونونه | په لوړه کچه (اکتشاف او استخراج)، منځنۍ کچه (تصفيې) او ټيټه کچه (توليد او خرڅلاو) کې د قوانينو د تنظيم له مسؤليت سره د هايدروکاربن د خپلواکې اداري رامنځته کول | دافغانستان د نفتو او ګازو د قوانينو د تنظيم اداره | 2018جون |
| | د سون تېلو واردات دې ترجواز لاندې راشي | دافغانستان د نفتو او ګازو د قوانينو د تنظيم اداره | 2018جون |
| ټولنيزه خارنه | له سيمه ييزو ټولنو سره د مشورې لپاره لاربنودونه د کان کيندنې د وړانديز شوو پلانونو خپرول او بياکتنه او د خطرونو کمول | د کانونو وزارت | 2018جون |
| | له قانوني عوايدو يا له استخراج څخه د لاسته راغلو ګټو څخه د مناسبې برخې د ترلاسه کولو په منظور د سيمه ييزو ټولنو لپاره د دستورالعمل برابرول | د کانونو وزارت | 2018جون |

## ٦. د هېواد والو دله لاسه وتلي اعتماد راژوندی کول

د اداري اصلاح هغه وخت د اداري فساد پروړاندې د مبارزې وسيله کېدای شي چې هېواد وال باورمند شي چې د دولت کړنې منصفانه او د ټولو په ګټه دي او د فساد پروړاندې د هغوی مبـارزه بـه کاميابـه شي. دولـت بـه د خلکـو د اعـتماد راژوندي کولو لپاره درې ډوله اقدامات ترسره کړي:

لومړی: د عدلي او قضايي سکتور پاکول به نه يواځې عدالت ته د هېواد والو لاسرسی شـامل وي بلکـې د خلکـو پـه لاس کې له هغو سرغړونو څخه د څارنې او د ريوټ ورکونې وسيله وي چې په دې سـکتور کـې د بـې عـدالتۍ منشـاء ګرځـي. دغه مبارزه به د څمکو غصب ته خاصه پاملرنه ولري [٩]. د ځمکوالۍ قانون تصـويب شـوی دی او د عنـاوينو او ملکيتونـو د حقوقو د پياوړي کولو لپاره فرعي مقررات کابينې ته د وړاندې کولو په خاطر د برابرولو په حال کې دي.

دوه يم: د ملي خدمتونو د وړاندې کولو معيارونه لاساده او شفافه کېږي ترڅو هېوادوال هم د فساد د کنټرول په سيسـتم کې برخمن وي. په دې اړوند به مونږ خپل فعاليتونه د هېوادوالۍ د لومړنيو سـندونو د وړانـدې کولـو پـه برخـه کـې لکـه الکترونيکي تذکره، پاسپورت او د رأيې ورکونې کـارت چـې پـه ټـوليزو فعـاليتونو کـې د ګـډون لپـاره د هېوادوالـو د ګټـې اخيستنې د وسيلې په توګه شمېرل کېږي ساده، آسانه او خود کاره کړو.

دريېيم: د افغانستان آزادې رسنۍ او متحرکـه او فعالـه مـدني ټولنـه هـم خپلواکـه څارنـه ممکنـوي او هـم دولـت حسـاب ورکونکی کوي.

د يو واحد دولت په توګه، د افغانستان د وزارتونو د کار دستور په مرکز کې ټاکـل کېـږي. خـو د افغانسـتان ډېـری وګـړي اداري فساد په سيمه ييزه کچه تجربه کوي چې په هغې کې د حکومتوالۍ د ملي بنسټونو ترڅنګ سنتي سيسټم شتون لري او ډېری هغه شبکې او اشخاص په کې شامل دي چې دولتي اداري فسـاد هڅـوي. ددې سـتراتيژۍ د تطبيـق لـه پيل څخه وروسته د قانون د حاکميت د ملي شوري خاصه پاملرنه به په خپلـه اجنـدا کـې پـه سـيمه ييـزه کچـه د فساد شاملول او د سولې د عالي شوري او د ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون په څېر له نورو برنامو سره همکاري وي.

٩. د قانون د حاکميت او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د عالي شوري په يوه ناسته کې چې د ٢٠١٧ کال د اګست د مياشتې په ٣٠ نېټه جوړه شوه ستري محکمې د اراضۍ د ځانګړو محکمو د رامنځته کولو لپاره چې پ اراضي پـورې د اړوندو قضاياوو د استماع لازم مهارتونه او واکونه به ولري، خپل تصميم اعلان کړ.

د سيمه ييزې حکومتولۍ کـاري ډلـه چـې د سـيمه‌ييـزو ارګـانونو د خپلـواکې اداري لخـوا رهـبري کېـږي ددې پاليسـۍ پربنسټ له مرکز څخه ولايتونوته د مسؤليتونو د لېږد له لارې د فسـاد د کنـټرول لپـاره د ظرفيتونـو رامنځتـه کولـو تـه پـه ځانګړې پاملرنې سره د سيمه ييزې حکومتولۍ د پاليسۍ د برابرولو په حال کې ده.

ځانګړي اقدامات د هېوادوالو د حقوقو په اړه د پوهاوي د زياتېدو لپاره د عامه لاسرسي يوې ستراتيژۍ، د واليانو پـه ټولـو دفترونو کې د شکايتونو د ترلاسه کولو برخې، او لدې څخه چې وزارتونه په خپلو ژمنو ولاړ دي د وزارتونو د اجراآتو په اړه د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره له مشارکتي تفتيش او د خلکو له عامه نظرياتو څخه پراخې ګټې اخيستنې ته شامليږي.

زمونږه هڅې د پراخو استراتيژيکو اړيکو لپاره د ښه والي په حال کې دي . دغه هڅـې بايـد پـه سيسـتماتيک ډول زيـاتې شي او دوام وومومي ترڅو زمونږه هېوادوال باور پيداکړي چې د هغوی غږونه اوربدل کېږي او له هغو معلومـاتو څخـه چـې

يې لاسته راوړي ډاډ ترلاسه کړي چې له اساسي اصلاحاتو څخه حاکي دي.
دې ته په پام سره چې له خبرو څخه عملي اقدامات زيات اغېزمن دي، خلک بايد ددولتي لوړ پوړو رهبرانو له خوا د فساد پروړاندې د مبارزې د هڅوشاهد وي. دولت به د ولايتونو له مرکزونو څخه د ليدنې او په مستقيم ډول او يا د ملي سيمه ييزو رسنيو له لارې له خلکو سره د مشورې برنامې ولري. څو ملي برنامې ارتباطي خطونه لري چې هېوادوال کولای شي د هغو له لارې د اداري فساد د قضاياوو پروړاندې خپل شکايتونه شريک کړي.په افغانستان کې ټولنيزې فعالې رسنۍ د هېوادوالو د اندېښنو په اړه د معلوماتو يوه بله سرچينه ده او بايد د لوړو مقاماتو لخوا په زياته کچه تر گتې اخيستنې لاندې ونيول شي.
د وخت په تېرېدو سره به ريوټ ورکونه او نظر ورکونه زياته آسانه او پراخه شي. له ټوليزو رسنيو او نورو ټکنالوژيو څخه د گټې اخيستنې زياتوالی، له پايلو څخه په نه ډار ريوټ ورکونه ممکنوي. د www.efshagar.af ويب سايت چې د " من رشوت دادم"له ويب سايټ سره معادل دی فعال شوی دی. د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په چاروکې د لوی څارنوال مرستيال به د هراړخيز څارنيز عمل د پلان د چمتو کولو او برابرولو لپاره له مدني ټولنې او رسنيو سره مشورتي غونډې ترسره کوي. دغه د عمل پلان به رسنۍ او مدني ټولنې په دې وتوانوي چې د اداري فساد پروړاندې د مبارزې له هڅو څخه څارنه وکړي.
که د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د ستراتيژي نيمايي د دولت اصلاح پورې ترلې ده، بله نيمايي يې په دولت کې دننه د اداري فساد په اړه عمومي غوصې ته په رسيدگي پورې ترلې ده. خپلواکه څارنه او بهرنی فشار د دولت د ستراتيژۍ اساسي برخه ده.د همکارۍ او پوهاوي ورکونې په برخه کې د مدني ټولنې نقش د څارنې او ارزونې د کمېټې (MEC)له خوا ترملاتړ لاندې نيول کېږي. علما له اداري فساد سره د مبارزې له اهميت څخه دعامه پوهاوي په هدايت، ملاتړ او زياتوالي کې اغېزمن نقش لري. د رسنيو د وېرولو لپاره د تروريستانو وروستيو کوښښونو ته په پام سره دولت به ژورنالستانوته د لازيات امنيت د برابرولو لپاره د خپلې ژمنې په گډون د افغانستان د خپلواکو رسنيو د ملاتړ او ساتنې په برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

## ۷. له خصوصي سکتور سره مرسته

دولت له خصوصي سکتور او خصوصي شبکو سره په نږدې مشارکت کې کارکوي ترڅو د رشوت سرچينې و پېژني او له اداري فساد څخه پاک د پانگونې چاپېريال رامنځته کړي. د افغانستان په خصوصي سکتور کې اداري فساد په دوه ډوله دی: لومړی، دولتي مزيت ته د لاسرسي لپاره دولتي مقاماتوته رشوت ورکول. دوه يم، خصوصی سکتور په خپله په فساد کې اخته دی، لکه بازار ته د بې کيفيته درملو وړاندې کول يا د مالي او مالياتي کاذبو ريوټونو جوړول.
دغو اندېښنو ته د رسيدنې په خاطر به دولت د فساد زېږوونکو فرصتونو د راکمولو او د فساد د لگښت د زياتولو لپاره اقدامات ترلاس لاندې ونيسي.
دولت د اجراآتو د بهير د ساده کولو لپاره داسې جامع برنامې ترلاس لاندې نيولې دي چې د جواز د ترلاسه کولو په بدل کې د رشوت د اخيستلو فرصت راکموي. ددې اجراآتو بېلگې د هغه جواز او اجازه ليک د صدور د پړاوونو د تېرولو لپاره د

واحد مرکز رامنځته کول دي چې د ولايتونو په کچه رامنځته شوي دي او وروستنۍ ساده کونه د سوداګريز جواز پروسه ده. د فساد د لګښت د لازياتولو لپاره به دولت سوداګريزو شکايتونو ته د مستقيمې رسيدګۍ او يا لويې څارنوالۍ ته د هغوی دارجاع لپاره د اقتصادي عالي شوري تر اداري لاندې د رپوټ ورکونې يو عالي ميکانيزم رامنځته کړي.[1]

د اداري فساد د ستونزې لپاره د حل لارې هم د خصوصي سکتور له لارې د دولت په ملاتړيزو پاليسيو سره هم شونې دي. د مثال په ډول، بنسټونه يا خصوصي يا نادولتي شرکتونه کولی شي د توليد د کيفيت د استندرد جواز وړاندې کړي. د افغانستان د قوريه لرونکوملي مؤسسه (منقا) د باغدارۍ د سکتور د داوطلبانه برنامو يو مثال دی چې د هېواد په ۲۴ ولايتونو کې ميوه لرونکې ونې ثبت، بررسي او تصديقوي. نورو هېوادونو هم لدې تګلارو څخه لکه د درملو جوړونې او د ساختمان د مقررې پربنسټ د پلټنې رامنځته کول، د کيفيت د جواز د وړاندې کولو لپاره ګټه اخيستې ده. که پلټونکی پخپله ثبت او معتبر وي، کولای شي د افغانستان د کار پيداکوونکو لپاره د فعاليت د رامنځته کولو په برخه کې د کم لګښت لارې برابرې کړي.

## ۸. بين المللي همکارۍ

د افغانستان بين المللي همکاران درې کليدي نقشه لري:

لومړی: اوږد مهاله او د وړاندوينې وړملاتړ، دا امکان راکوي چې د اداري اصلاحاتو پروړاندې مبارزه بنسټيزه شي. ددې منظور لپاره د افغانستان د بيا جوړونې د صندوق (ARTF)دوام او پراختيا او د پرمختيايي شوري ګانو له لارې کار چې د هغوی اصلي موخه د دولتي بااعتماده او اغيزمنو سيستمونو رامنځته کول دي، د ډېر اهميت وړ دي.

دوه يم: د فساد کوونکو د ګواښونو پر وړاندې له اصلاح کوونکو څخه ساتنه، د لوړو پوړو مقاماتو لپاره د کافي ملاتړ او امنيت برابرول، په ځانګړي ډول په امنيتي سکتور کې.

دريبيم: هغه دونران چې د افغانستان ملاتړ کوي په ځينو وختونو کې له هغو کړنو څخه يې سترګې پټې کړې دي چې د فساد لامل وو. حکومت به له بين المللي ټولنې سره په نږدې همکارۍ کې د څارنې، رپوټ ورکونې او دچارو د تعقيب د پياوړي کولو لپاره کار وکړي.

## ۹. د څارنې او رپوټ ورکونې ميکانيزم

ددې استراتيژۍ پرتطبيق څارنه د قانون د حاکميت او د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د عالي شوري پرغاړه ده. د کره او دوامداره څارنې لپاره، لاندې اقدامات صورت مومي:

۱. عالي شوري د څار، رپوټ ورکونې او رپوټ اخيستنې لپاره د جمهوري رياست په دفتر کې يو ځانګړی سکرتريت

---

[1] د اقتصادي همکاريو او پرمختيا سازمان چې په يوه سند کې د سوداګرۍ لپاره د يو لوړ پوړي ميکانيزم د طراح په عنوان سره ، دغه لوړ پوړی ميکانيزم داسې تعريفوي" د هغو کمپنويو د ترلاسه کولو، بررسي او ژر حل لپاره چې د رشوت غوښتنې يانورو ورته اندېښنو سره په ځانګړو اداري پروسو يا دولتي پروژو کې له هغو سره مخامخ کېږي د هېواد د ننه يوه پروسه ده. لومړنۍ موخه د اړوندې ستونزې له تشديد څخه د مخه کمپنيو ته د يوې خپلواکې او چټکې سرچينې برابرول او د يوې چټکې حل لارې وړانديزول دي.

رامنځته کوي.

۲. له اړوندو ادارو څخه هرهغه چې پدې سند کې يې نوم اخيستل شوی دی، مکلفه ده ددې استراتيژي تطبيقي پلان د هغې له وروستني کېدو وروسته د يوې مياشتې مودې په ترڅ کې برابر کړي او د عالي شوري تائيد ته يې ورسوي.

۳. له هغو ادارو څخه هره يوه يې چې پدې سند کې ددې ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د هغوی نوم راغلی دی مکلفه ده لږترلږه د هرو درېو مياشتو په ترڅ کې دخپلو فعاليتونو او پرمختګونو رپوټ عالي شوري ته وړاندې کړي.

۴. د عالي شوري ځانګړی سکرتريت به په هرو شپږو مياشتو کې ددې استراتيژۍ د تطبيق او د هغو په اړه د ترسره شوو پرمختګونو په هکله خپل عمومي رپوټ د رسنيو له لارې وړاندې کوي.

## ۱۰. لنډ مهاله او اوږد مهاله اقدامات

ددې ستراتيژۍ په سريزه کې اشاره وشوه چې د اداري فساد پرووړاندې مبارزه اوږدو او سختو هڅو ته اړتيالري. هېڅ هېواد نشي کولای چې اداري فساد په بشپړ ډول له منځه يوسي. هغه اقدامات چې پدې سند کې ياد شوي دي ددې ملي کمپاين لپاره پيلونکي اقدامات دي او د بريا لپاره وروستني پلان نه دی. هغه ننګونې چې ورسره مخامخ يو يوازې داندي چې د فساد پر وړاندې مبارزه اوږد مهاله ژمنې او بنسټيزو اصلاحاتوته اړتيا لري بلکې دامسئله هم شاملوي چې فاسد اشخاص به له مبارزې پرته له خپلو غير قانوني کړنو څخه لاس وانخلي. هغه ستراتيژۍ چې په لومړي سرکې ښې ثابتې شي وروسته له دې چې فاسد اشخاص د هغو له کمزورتيا څخه خبرېږي او د خپلو په فساد ککړو فعاليتونو د پرمخ بيولو لپاره نوې طرحې برابرې کړي خپل اغيزمنتوب له لاسه ورکوي.

ددې ستراتيژۍ موخه ددې پرځای چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې جامع پلان وړاندې کړي د داسې يو چوکاټ برابرول دي چې دولت ته د شته ستونزو سره په داسې ډول د مخامخ کېدو توان ورکړي چې د وخت په تېرېدو سره د زده کړې قدرت او له هغو سره د خپل ځان د برابرولو توان پيداکړي. ددې ستراتيژۍ د لومړي پړاوله پای څخه څومياشتې وړاندې به د قانون د حاکميت عالي شوري د هغو د اغيزو د ارزونې لپاره د يوې خپلواکې بررسۍ دستور ورکړي. د دې بررسۍ پربنسټ به د قانون د حاکميت عالي شوري له فساد سره د مبارزې د تګلارو په هکله هغه چې بايد ادامه ومومي ياهغه چې بنه والي ته اړتيالري او همدارنګه هغه چې له نوو اقداماتو او نوښتونو سره بدل شي حکومت ته وړانديزونه برابرکړي.

دغه ستراتيژۍ ددې ننګونو ځيني برخې په هغه وخت کې چې مرکزي حکومت خپل مسؤليتونه ولايتونو، ولسواليو او ښاروالیوته تفويضوي اټکل کړي دي. د سولې پرمختګ به د جګړې مارو له ملکي کولو سره په ډېر مقياس سره په يوه وخت کې وي، او دغه داسې يوه پروسه ده چې د خپل ډول پېژندل شوي ريسکونه به رامنځته کړي. د مخدره توکو د سوداګرۍ پرووړاندې د مبارزې پياوړي کول به مالي فساد کې د نوښتونو لامل شي چې يوازې کولای شو د نړيوالو همکاريو د نوو ډولونو له لارې ورته رسيدګي وکړو.

## ۱۱. پايله

په افغانستان کې له فساد سره مبارزه د قانون له حاکميت او د عدالت لـه اجـراء سره مترادفه ده، دغه دواړه هغـه مـلي پياوړي ارزښتونه دي چې زمونږ د ټولنې د ټولو برخو د هيلو انعکاسوونکي دي. مـونږ پـدې بـاور يـو چـې ددې پروګـرام د لومړي پړاو لپاره پنځه تعريف شوي محورونه به په هېواد کې د قانون د حاکميت د پروژې د لارښود چوکاټ په توګه باقي پاتې شي، چې عامه بسيج به د دولت د اعتبار د زياتېدو سره پـه زياتېـدونکي ډول مرکـزي شي او خلـک بـه لـه سـياسي دستګاه څخه د مثبت بدلون لپاره پر نفس ډاډ او اعتماد لاسته راوړي. په دوه يم پړاو کې ترپوښښ لاندې وزارتونو شـمېر به زياتوالی پيداکړي او له اداري فساد سره د مبارزې په واسطه نوی رامنځته شوی لرليد به شهرت ته ورسېږي.
مونږ دغه ستراتيژي په تواضع سره پای ته رسوو. په دې ستراتيژۍ کې مو چوکاټ او يـو شـمېر اصـلاحات ذکـر کـړي دي چې زمونږ له نظره د پام وړ پايلې لري او د افغانستان د دولت او خلکو ترمنځ ټولنيز قرارداد نوی کوي. خو له اداري فساد سره مبارزه چټکه او آسانه صورت نه مومي.
د اداري فساد زيانونه ډېر ژور دي. مونږ په دې مبارزه کې د افغانستان د خلکو له همکارۍ پرته بريـالي کېـدای نـه شـو. لکه څرنګه چې اداري فساد قوميت، ځای او جنسيت نه پېژني او پراخ دی، د هغې پروړاندې مبارزه هم بايـد افغانسـتان شموله وي. دغه مبارزه بايد دې پوښتنې ته ځواب ووايي چې " مونږ به څپلو اطفالو ته څرنګه هېواد پرېږدو؟".
پدې ستراتيژۍ کې له يو بل سره اړوندې اصطلاحګانې چې زمونږ په باور د حکومـتولۍ تګـلارې تـه بـه بـدلون ورکـړي، يادې کړې دي.دغه اصطلاحګانې په دين، تاريخ، فرهنګ، اساسي قانون او په ملي بحثونو کـې د ځـان بسـياينې پـه اړه رينښه لري. پردې برسېره به نورې داسې برنامې هم ترلاس لاندې ونيول شي چې د اداري فساد شـونتيا کمـه کـړي او پـه فساد ککړو کړنو لګښتونه به درانه کړي. دغه اقدامات به زمينه برابره کړي ترڅو د حکومت دننه او بهر کې اصـلاح ګـران يوه شبکه جوړه کړي او د تعرضاتو په وړاندې دفاع وکړي او د اصلاحاتو غورځنګ پرمخ بوسي.
دغه برنامه د ځوانانو لپاره ده. مونږ پوهېږو چې دغه برنامـه بـه د اوسـنې حکومت څخـه وروسـته  هـم دوام مـومي. خـو هغـه اصلاحات چې وړاندې شوي دي، اصلاح ګران په نويو وسايلو سمبالوي ترڅو همدانن لازم او بنسټيز بدلونونه رامنځته کړي.

# ضميمي

د اداري فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د افغانستان د ملي ستراتيژۍ د اقداماتو د جدول ۱ ګڼه ضميمه

| شاخص | تطبيق كوونكې اداره | د اجرا وخت |
|---|---|---|
| **لومړی ستون: سياسي رهبري او د اصلاح ګرانو پياوړتيا** | | |
| د لوړ پوړو مقاماتو د شتمنيو د ثبت او اشاعې د برنامې بشپړ تطبيق | د چارو اداره | فبروري۲۰۱۸ |
| د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په هكله د جمهوري رياست كلنۍ مشورتي غونډه | د جمهور رئيس دفتر او اجرائيه رياست | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د قوانينو پياوړتيا: (۱)له افشا كوونكو څخه د ساتنې د قانون تصويب، (۲) له بين المللي معيارونو سره د سمون لپاره اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون تعديل او اطلاعاتو ته له لاسرسي څخه د څارنې د نوي تاسيس شوي كمېسيون پياوړتيا، (۳) د هغو شتمنيو د ضبط لپاره چې په نا قانونه توګه ترلاسه شوې دي د مدني او جزايي قوانينو بيا كتنه او د هغو افرادو له ګډون څخه مخنيوی چې په سياسي پستونو كې په فساد محكوم شوي دي. | عدليې وزارت | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د هڅونې د برنامې معرفي كول او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په كار كې د ملكي خدمتونو د كاركوونكو د فردي او ډله ييزو لاسته راوړنو مكافات | د اداري اصلاحاتو او ملكي خدمتونو كمېسيون | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د جمهور رئيس په دفتر كې د بازرس د خپلواكې اداري رامنځته كول | د جمهور رئيس دفتر | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د سيمه ييزې حكومتولۍ دواحدې پاليسۍ تصويب | د سيمه ييزو ارګانونو اداره | فبروري۲۰۱۸ |
| د قضائيه قوې د استقلاليت تأمينول:۱- علنې محاكمې، ۲- د خلكو دخيلول، ۳- د قضايي خدمتونو خپلواك كمېسيون | ستره محكمه/د جمهور رئيس دفتر | جون ۲۰۱۸ |
| **دوه يم ستون: د امنيتي سكتور اصلاح** | | |
| د لاربشودونو د وړاندې كولو او د امنيتي سترو مقاماتو له ټاكلو او ترفيعاتو څخه د پلټنې لپاره د څارنې د عالي بورډ ټاكل | د ملي امنيت شورئ | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د سترو بستونو د تعييناتو په اړوند د عامه نظرياتو د ترلاسه كولو په هكله د ازمايښتي برنامې لپاره د دستورالعمل برابرول | د كورنيو چارو وزارت | جون ۲۰۱۸ |
| د كورنيو چارو له وزارت څخه د ملي دفاع وزارت ته د عامه نظم د پوليسو او د سرحدي پوليسو لېږدول، د هغوی د سترو قوماندانانو د كړنو بشپړه بررسي. | د ملي دفاع او كورنيو چارو وزارتونه | جون ۲۰۱۸ |
| د لاسرسي وړ ولسواليو ته د برېښنايي وركړو پراختيا | د كورنيو چارو وزارت | جون ۲۰۱۸ |
| پلان جوړونه، بودجه جوړونه او دفاعي ستراتيژي ۱- دفاعي غير | د ملي امنيت شورئ | دسمبر ۲۰۱۷ |

| | | |
|---|---|---|
| مشروطي ستراتیژی او د مشرحي دفاعي بودجي خپرول ۲- ددي سکتور لپاره د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د عمل د یوه پلان خپرول | | |
| په امنیتي سکتور کې له مالي خطراتو څخه د یوې معتبرې ارزونې بشپړول | د مالیې وزارت/کورنیو چارو وزارت/دفاع وزارت | جون ۲۰۱۸ |
| د حکومتولی او یا د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د قوانینو او پالیسیو په تدوین کې د مدني ټولنې د نظریاتو واردول | د جمهور رئیس دفتر | دسمبر ۲۰۱۷ |
| خیالي سرتیري او پولیس: ۱- د امنیتي سکتور پرسونل ته د کنترول د پلان تدوین او د ورکړو د کړنلارو تصدیق ۲- د پېژندګلوی له ګنې څخه په ګټې اخیستنې سره د حضور او غیاب د سیستم رامنځته کول ۳- د معاشاتو دورکړې په باره کې د معلوماتو د تعقیب لپاره د برېښنایي عملیاتي سیستم له ګټې اخیستنې څخه د ډاډ ترلاسه کول ۴- د کورنیو پلټونکو او د پلټنې د ادارو لپاره د ښوونیزو برنامو وړاندې کول | د ملي امنیت شوری | دسمبر ۲۰۱۷ |
| پر پټو(سري) تدارکاتو څارنه: ۱- د محرمو تدارکاتو لپاره د موجودو څارنیزو میکانیزمونو خپرول ۲- پارلمان ته د دفاعي او امنیتي سکتور په اړوند د پلټنې د مفصل راپور وړاندې کول | د ملي امنیت شوری | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د ملکي خدمتونو د کمېسیون د ښوونیز مرکز او د هغوی د نصاب بیا احیا د هغو پنځو زرو نویو مقرر شوو مامورینو تر پوښښ لاندې راوستلو په ظرفیت چې د عامه اداري او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې کورسونه پای ته ورسوي. | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو کمېسیون | دسمبر ۲۰۱۸ |
| **درېیم ستون: د شایسته سالاری په اړه د ملکي خدمتونو د سیستم بنستیز کول** | | |
| د ټولو پستونو اعلان او په سیالی ټاکنه | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون | دسمبر ۲۰۱۷ |
| لږ تر لږه د ملکي خدمتونو پنځه زره کمزوري کارکوونکي چې ښه اجراآت نه لري استعفي ته دې وهڅول شي او یا د هغوی لپاره دې د زده کړې زمینه برابره شي چې له هغې وروسته یا د شرایطو لرونکي شي او یا ملکي خدمتونه پرېږدي. | د کار او ټولنیزو چارو او د لوړو زده کړو وزارتونه | دسمبر۲۰۱۸ |
| تعیینات او قضایي ستاژ: د علمي کادرونو او بهرنیو متخصصینو د غړو په شمول له مقننه قوې، قضائیه قوې او مدني ټولنې د خپلواکو استازو | د عدلیې وزارت او ستره محکمه | جون ۲۰۱۸ |

| | | |
|---|---|---|
| د شاملولو لپاره د ستاژ په کمېټه کې د غړيتوب زياتوالی چې د هغوی مخينه او سوابق بررسي شوي وي ۲- د قضايي ستاژ له پروسې څخه بهر له تعييناتو څخه قاطع مخنيوی او له يوې رڼې او سياليزې پروسې څخه د ډاډ ترلاسه کول | | |
| **څلورم ستون: عدلي او قضايي اصلاحات او په اداري فساد د تورنو افرادو تعقيب** | | |
| د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د تقنيني سندونو بيا کتنه | د عدليې وزارت | فبروري۲۰۱۸ |
| له قضايي تعييناتو څخه د څارنې او پلټنې لپاره د قضايي خپلواک کمېسيون رامنځته کول | د جمهور رئيس دفتر | جون ۲۰۱۸ |
| د څارنې او ارزونې د ګډې کمېټې په استثنې د لويې څارنوالۍ د اداري تر رهبرۍ لاندې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ټولو ادارو ادغام | د جمهور رئيس دفتر | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د تقنين، حقوقو او د دولت د قضاياوو په اداره کې د اصلاحاتو راوړل | عدليې وزارت | جون ۲۰۱۸ |
| د مجرمينود استرداد، له پولې هاخوا جرمونو، او د غلا شوو شتمنيو د ترلاسه کولو په هکله ژور بحثونه او د توافقاتو ترلاسه کول | د جمهور رئيس دفتر، د بهرنيو چارو وزارت، لوی څارنوالي | جون ۲۰۱۸ |
| امن ولسواليوته لږ تر لږه د پنځوسو څارنواليو استول | د عدليې وزارت | سپتامبر ۲۰۱۸ |
| عدالت ته لاسرسی: ۱- په ټول هېواد کې عدالت ته د هېوادوالو د لاسرسي ښه والی ۲- د خوندي ارشيف د تطبيق په ګډون په محکمو کې د قضاياوو د مديريت د سيستم پياوړي کول.۳- د قضائيه قوې او د قانون د تنفيذ د ارګانونو ترمنځ د همغږۍ پياوړتيا | ستره محکمه ، لوی څارنوالي، عدليې وزارت او پوليس | دسامبر ۲۰۱۸ |
| علني محاکمات: ۱- تر څو ډاډ حاصل شي چې ټول محاکمات دي له قانون سره سم علني وي. ۲- له قانون سره سم د علني محاکماتو د جوړولو لپاره د واضحو هداياتو صادرول او تنفيذ.۳- خلک څارنې ته هڅول او له دې څخه د ډاډ حاصلول چې د محاکمو فيصلې علني دي او په سيمه ييزه کچه عامه خبرتيا ته ورسول شي. | ستره محکمه | دسمبر ۲۰۱۸ |
| د هغه کانال رامنځته کول چې هېوادوال د فاسدو مقاماتو راپور د غچ اخيستنې له ويرې څخه پرته وړاندې کړي.<br>۱- بايد وکولای شو چې دغه شکايتونه د يوې عمومي شبکې له لارې وڅارو، هغه کسان چې د فساد راپور ورکوي بايد د خپلو قضاياوو د | ستره محکمه | دسمبر ۲۰۱۸ |

| | | |
|---|---|---|
| پرمختګ په لیدلو باندې برلاسي وي او بیا خپل حق ترلاسه کړي. ۲- باید د شکایتونو له سیستم څخه پلټنې شتون ولري تر څو د عامه خلکو په لاسرسي کې وي په داسې ډول چې هېوادوال د هغه څه په لیدو باندې قادر وي چې پېښېږي. ۳- د بازرسۍ د سیستم رامنځته کول(د شکایتونو د اورېدلو د مدیریت یواغیزمن سیستم، له دې څخه د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره چې پروسه رښه، خوندي او اغېزمنه ده د بازرسۍ اداري ته اړتیا لري.) | | |
| **پنځم ستون: د مالي او بودجې د چارو سالم مدیریت او د پیسو تعقیب** | | |
| د حسابدارۍ د قانون وړاندیز چې د ټولو دولتي بنسټونو لپاره د حسابدارۍ ملي معیارونه تنظیم کړي. پلټونکو او د حساب ورکونې شرکتونو ته جواز ورکړي. | د مالیې وزارت | فبروري۲۰۱۸ |
| د مالي اجراآتو د بنه والي د پروګرام بشپړه اجرا | د مالیې وزارت | دسمبر ۲۰۱۹ |
| د لوی څارنوال دفترته له مالي جرمونو سره د مبارزې د کمېټې لېږدول | لویڅارنوالي | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د افغانستان د قوانینو تعدیل د دې په موخه چې د دولتي قراردادونو بشپړ متن خپرول او د قراردادونو بدلول د وروستني کېدو له شرایطو څخه یو شرط او د هغوی اعتبار وي. | د ملي تدارکاتو اداره | دسمبر ۲۰۱۷ |
| د پلټنې د عالي اداري د قانون د بیا کتنې له لارې د پلټنې د عالي اداري پیاوړي کول | د پلټنې عالي اداره | جون ۲۰۱۸ |
| د قراردادونو د معلوماتو د راټولولو، خپرولو، ساتلو، لاسرسي او شریکولو لپاره د اړوندو مقاماتو د ظرفیتونو د ځواکمنولو لپاره د ظرفیت او د لازمو سرچینو تأمینول اود عامه تدارکاتو د یوه روڼ سیستم اجرا کول | د ملي تدارکاتو اداره | دسمبر ۲۰۱۷ |
| له بنو، رېو او حساب ورکوونکو مالیاتي عوایدو څخه د ډاډ د ترلاسه کولو لپاره د آدیس د مالیاتي نوښت او د راپور ورکونې د معمولو معیارونو تطبیق | د مالیې وزارت | دسمبر ۲۰۱۷ |
| ګمرکي اصلاح او شفافیت: د ګمرکونو د نړیوال سازمان د آروشای د بیانیې په اړوند د ګمرکي خدمتونو اصلاح ۲- په وېب پاڼه او یا د دولتي خدمتونو له لارې په هېواد کې دننه په سرحدونو او ګمرکي ډیپوګانو کې د نرخونو او کړنلارو اعلانول | د مالیې وزارت | فوریه ۲۰۱۸ |
| د هغو قوانینو، مقررو او کړنلارو په تصویب او تطبیق سره چې د الحاق د بستې پر بنسټ دغه نړیوال سازمان ته الزامي دي د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان د شفافیت د مکلفیتونو اجرا | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت | دسمبر ۲۰۱۸ |

## ۲گڼه ضميمه: د ملګرو ملتونو د سازمان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې کنوانسيون(UNCAC)

۱. افغانستان د ملګرو ملتونو د سازمان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې کنوانسيون په ۲۰۰۴ ميلادي کال کې لاسليک او په ۲۰۰۸ کال کې يې تصويب کړی دی.له دې ضميمې څخه موخه د افغانستان د دولت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتيژۍ د تطبيق او تنفيذ لـه لارې د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون د حکمونو د کليدي موضوعاتو د ستراتيژيک تطبيق د څرنګوالي د جزئياتو وړاندې کول دي.

۲. د افغانستان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ستراتيژي د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون له اساسي حکمونو سره سمون لري. خو زموږ د ستراتيژۍ تمايز دادی چې د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانيسون د حکمونو د جزئياتو د ورکړې پر ځای، افغانستان د هغو ادارو پر رامنځته کېدو تاکيد کوي چې ددې کنوانسيون د حکمونو د تطبيق توانمني ولري.

۳. لاندې پنځه کليدي موضوعګانې د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون د ستراتيژۍ حکمونه رانغاړي:

۱- د پاليسيو او اجراآتو له لارې مخ نيوونکي تدابير، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ادارې، د دولتي کارکوونکو د سلوک ډول، د تدارکاتو او عامه مالي چارو مديريت او له عامه اجراآتو څخه راپور ورکول؛

۲- **جرم ګڼل او د قانون تنفيذ** چې له دغو مسايلو سره اړيکه لري: د دولتي مقاماتو او د بهرنيو دولتي مقاماتو رشوت اخيستل؛ اختلاس؛ غير قانوني اجراآت او د دولتي مقاماتو په واسطه د عامه مالونو غير قانوني لګښت؛ د نفوذ اعمال؛ له دندو څخه ناوړه ګټه اخيستنه؛ د پيسو نا قانونه ترلاسه کول؛ په خصوصي سکتور کې رشوت اخيستل او د مالونو اختلاس؛ له جرم څخه د ترلاسه شوو پيسو سپينول؛ د نا قانونه اجراآتو پټول؛ د عدالت له اجرا څخه مخنيوی، د جرمونو د پيښېدو د وخت تېرېدل، عدلي تعقيب، قضاوت او مجازات؛ کنګل، تصرف او مصادره؛ له عيني شاهدانو، کارپوهان، د جرم قربانيان او د هغو د راپور ورکوونکو ساتنه؛ مسلکي کارکوونکي؛ د دولتي مقاماتو ترمنځ همکاري؛ د عامه سکتور او خصوصي سکتور د مقاماتو ترمنځ همکاري؛ د بانکونو پټونې؛ جنايي مخينې(سوابق)؛ او قضايي حوزه؛

۳- بين المللي همکاري: د مجرمينو استرداد، د محکومينو انتقال، د قانون په تنفيذ کې متقابلې همکارۍ، د جنايي دوسيو لېږدول، د قانون په تنفيذ کې همکاري، ګډې څېړنې او خاصې تحقيقاتي تګلارې رانغاړي.

۴- د شتمنۍ اعاده: له جرم څخه د ترلاسه شوو عوايدو پېژندنه او له لېږد څخه مخنيوی، د ملکيت د مستقيمې اعادې لپاره اجراآت، د بين المللي همکارۍ له لارې تر مصادرې لاندې مالونو د اعادې ميکانيزمونه، د مصادرې په موخه بين المللي همکاری، د شتمنيو بېرته ګرځول او د مالي اطلاعاتو ترلاسه کول رانغاړي.

۵- تخنيکي همکارۍ او د اطلاعاتو تبادله ښوونې او تخنيکي ملاتړونه، د فساد په هکله د اطلاعاتو راټولول، تبادله او تجزيه او تحليل او د کنوانسيون د موادو د حکمونو عملي کول رانغاړي؛

۴. دولت به همدارنګه د ملګرو ملتونو د سازمان د اداري فساد د مبارزې د کنوانسيون د عملي ارزونې له ميکانيزم څخه ګټه واخلي. ددې ميکانيزم فعاليت او کړنې ددې کنوانسيون د تطبيق د ارزونې د ډلې په واسطه رهبري او څارل

کېږي چې يوه بين الحکومتي ډله ده او د غړو هېوادونو لپاره په هغې کې شموليت، پرانيستى دى.

۵. مخنيوونکي اقدامات په افغانستان کې د مالي کړنو ښه والي د برنامې له لارې(FPIP) د ماليې وزارت په مشرۍ ترسره کېږي او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې مهم نوښتونه د لويې څارنوالۍ په رهبرۍ صورت مومي. پر عامه تدارکاتو او عامه مالي مديريت باندې به د مالي کړنو ښه والي (FPIP) تمرکز وکړي، په داسې حال کې چې لويه څارنوالي، عدلي ادارې، عدلي تعقيب، پيسو سپينول، او د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې بنسټونه تر پوښښ لاندې نيسي. د ملکي خدمتونو کمېسيون، حکومتي سکتور او د حکومتي کارکوونکو د سلوک ډول تنظيموي.

**٦. جرم ګڼل او د قانون تنفيذ** له فساد سره د مبارزې د برنامې کليدي جزء دى. د هغې تطبيق به د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون په ۲٦ ساحو کې د قوانينو او مقررو په پياوړتيا تمام شي: i:) د کورنيو دولتي کارکوونکو او بهرنيو دولتي کارکوونکو او د بين المللي عمومي سازمانونو د کارکوونکو رشوت اخيستنه؛ ii) اختلاس، ناوړه ګټه اخيستنه يا د د دولتي مقاماتو په واسطه له ملکيتونو څخه د نا قانونه ګټه اخيستنې نور شکلونه، iii) نا قانونه نفوذ، (iv له دندې څخه ناوړه ګټه اخيستنه، (v د پيسو نا قانونه راټولول( په محدوده موده کې د يوه مقام د شتمنۍ زياتوالى)،vi (په خصوصي سکتور کې رشوت اخيستل، (vii د خصوصي سکتور د شتمنيو اختلاس، (viii‌له جرم څخه د ترلاسه شووپيسو سپينول؛ix د عدالت له تطبيق څخه پټېدل او مخنيوى؛ الف) د حقوقي اشخاصو مسؤوليت؛ (xi د اداري فساد لپاره ګډون او يا هڅه؛(xii د جرم قصد او ارادهٔ ؛ (xiii زمان په تېرېدو سره د قوانينو وضع؛ (xivتعقيب، قضاوت او مجازات؛ (xvکنګلول،مصادره او ضبط؛ (xvi له شاهدانو، کارپوهانو، قربانيانو او راپور ورکوونکو څخه ساتنه؛ (xviii اداري فساد د اعمالو پايلې؛ (xix زيان جبران؛(xx اختصاصي اداري؛(xxi د قانون د تنفيذ له مقاماتو سره همکاري؛ (xxii د کورنيو ادارو ترمنځ همکاري؛(xxiii د دولتي ادارو او خصوصي سکتور ترمنځ همکاري ؛(xxivبانکي پټونې؛(xxvجرمي سابقه او (xxviقضايي واک.

۷. د افغانستان دولتد ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون له تطبيق څخه د څارنې د ډلې د وړانديزونو د کتنې په حال کې دي. دغه وړانديزونهله اداري فساد سره د مبارزې په حقوقي چوکاټ کې د سيستماتيک ښه والي لپاره د محکمې مبنې ګڼل کېږي. د جرم ګڼلواو د قانون د تنفيذ لپاره ځينې کليدي وړانديزونه عبارت دي له:

- په څرګند ډول د دولتي مقاماتو د رشوت اخيستنې جرم ګڼل؛
- د بهرنيو دولتي مقاماتو او د بين المللي سازمانونو د کارکوونکو رشوت، جرم ګڼل او د دغو افرادو د غير مستقيمرشوت اخيستنې د جرم ګڼلو په پام کې نيول؛
- په بشپړه توګهد غير قانوني اعمالو جرم ګڼل ، اختلاس او د دولتي کارکوونکو په واسطه له ملکيت څخه د ناوړه ګټې اخيستنې نور شکلونه او په ځانګړي ډول د نا منقولو مالونو تر پوښښ لاندې راوستل؛
- جرم ګڼل١) غير قانوني نفوذ ٢) له وظيفوي موقف څخه ناوړه ګټه اخيستنه ؛ ٣) او په خصوصي سکتور کې رشوت او اختلاس.
- د ټولو دولتي مقاماتو د شتمنيو د ثبت د سيستم معرفي؛
- د شتمنۍ د نا قانونه زياتوالي د جرم ګڼلو لپاره د کوښښونو دوام؛

- د دولتي ادارو، رياستونو او خصوصي تشبثاتو په ګډون چې د شرکتونو د شرايطو لرونکي نديپر ټولو حقوقي اشخاصو د ملګرو ملتونو د سازمان د اداري فساد د مبارزې د کنوانسيون د حکمونو پر سرغړوونکو د قانوني مؤيداتو له تطبيق څخه د ډاډ ترلاسه کول ؛
- د اداري فساد د جرمونو د ځرګندي دسته بندۍ وړاندي کول، په ځانګړې ډول، د فساد د هغو جرمونو تشخيص چې د دولتي مقاماتو په واسطه ترسره شوي وي، ددغو جرمونو د شدت او خفت په پام کې نيولو سره.
- په اداري فساد د محکومو اشخاصو په واسطه د سازمانونو او دولتي ادارو د پستونو له تصدۍ څخه د مخنيوي او ممانعت لپاره د روښانه شرايطو او ضوابطو په پام کې نيول؛
- د شاهدانو او متخصصينو د ځای پر ځای کولو د شونتيا ځرګنده تصريح؛
- د هغو تورنو د مجازاتو د راکمولو امکان چې د فساد د جرمونو په څېړنو( تحقيقاتو) يا عدلي تعقيب کې د پاملرنې وړ همکاري لري.

۸. بين المللي همکاري به هم پياوړې شي. دغه همکارۍ د مجرمينو استرداد، د محکومينو انتقال، حقوقي متقابله همکاري، د جنايي دوسيو انتقال، د قوانينو په اجرا کې همکاري، ګډې څېړنې او د څېړنو ځانګړي تخنيکونه رانغاړي.

۹. د ملګرو ملتونو د سازمان له اداري فساد سره د مبارزې د کنوانسيون د تطبيق د بيا کتنې د ډلې په واسطه د وړاندې شووځينو کليدي توصيې چې تر بين المللي همکارۍ لاندې په پام کې نيول شوي دي عبارت دي له:

- د مجرمينو د استرداد د لاربښودونو او د حقوقي متقابلې همکارۍ د کړنلارو تدوين.
- له دې څخه د ډاډ ترلاسه کول چې د ملګرو ملتونو د فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون له حکمونو څخه ټول سرغړوونکي، د دواړو هېوادونو د جزايي قوانينو په رڼا کې، د استرداد وړ دي.
- د جرم د شريک د استرداد مجاز ګڼل.
- د رشوت خوړلو په اړوند د جرمونو د استرداد لپاره د حقوقي بنسټ په توګه د کنوانسيون په پام کې نيول او همدرانګه له دې څخه د ډاډ ترلاسه کول چې له دغه کنوانسيون څخه ټولې سرغړونې د مجرمينو د استرداد د ټولو دوه اړخيزو معاهداتو له لارې د استرداد وړ دي.
- له دې څخه چې افغانستان دغه کنوانسيون د مجرمينو د استرداد لپاره د حقوقي بنسټ په توګه په پام کې نيسي د ملګرو ملتونو د سازمان سرمنشي ته خبر ورکول.
- د استرداد د کړنلارو د ساده کولو او چټکتيا لپاره د اقداماتو نيول.
- د کنوانسيون د غړو هېوادونو ترمنځ د جرمي دوسيو د انتقال د شونتيا د چمتو کولو لپاره د اقداماتو په پام کې نيول.

۱۰. **د شتمنيو د اعادې لپاره کوښښونه** به د پاملرنې په محراق کې ونيول شي. پدې هکله د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسيون لومړيتوبونه ، په لاندې ډول دي: د جرمي عوايدو د لېږدونې کشف او مخنيوی، د ملکيت د مستقيمې اعادې لپاره اقدامات، د مصادرې لپاره د بين المللي همکارۍ له لارې د ملکيت د اعادې ميکانيزمونه، د مصادرې په موخه بين المللي همکارۍ، ځانګړې همکارۍ، د شتمنيو او مالي اطلاعاتو ببرته راګرځول او په لاسرسي کې ورکول.

۱۱. د افغانستان دولت يوې ځانګړې موضوع ته د رسيدګۍ په حال کې دی چې د ملګرو ملتونو د اداري فساد پر

وړاندې د مبارزې د کنوانسيون د تطبيق د بررسی د ډلې لخوا مطرح شوې ده. د افغانستان د پيسو د سپينولو پر وړاندې د مبارزې د قانون ٦٦ ماده د شتمنيو د بېرته راګرځولو او شريکولو لپاره د وجهي صندوق د تأسيس په اړوند، صراحت لري. خو کتل کېږي چې د کنګل شوو، ضبط شوو او مصادره شوو شتمنيو د مديريت لپاره مشخص معيارونه شتون نلري. دغه کړنلارې به برابرې او اجرا شي.

۱۲. **تخنيکي مرسته او د اطلاعاتو تبادله** به دوام ومومي. د پرمختيايي همکارانو له لارې له زده کړو سره مرسته او تخنيکي همکارې، په ځانګړې ډول د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې له نړيوالو معتبرو ادارو سره د تخنيکي همکاريو د پراختيا د دوام لپاره به ولټول شي. د فساد په هکله د اطلاعاتو راټولول، تبادله او تحليل، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره به د افغانستان د اصلي ادارو اصلي مکلفيت وي او ددې کنوانسيون د اغېزمن او کارا تطبيق په لاره کې به د مرستې غوښتونکي شو.